کابل

۳۸۸

2 - FEB 24 1956
Copy



زمونږ مهربان او غمخور پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه

...ر له پسې ګڼه ۲۸۸
...۱۳۳۴ د چنګاښ ۱۶

کال ۲۵ گڼه ۷

کابل

۱۳۳٤ش کال دچنگاښ (۱٦) د ۱۳۷٤ق کال دذیقعدةالحرام (۱۹) د ۱۹۵۵ع کال دجولائي (۹)

پنځلس ورځنی مصوره، اجتماعی

ادبی، علمی، تاریخی، مجله

دامتیاز خاوند: پښتـــوټولنـــه

مسئول چلوونکی: عزیزالرحمن (سیفی)

ټولې لیکنې د پښتو ټولنې دمشر صدیق الله رشتین په نامه کېږي.

پته: پښتو ټولنه ـ دابن سیناواټ ـ کابل دټیلفون لمبر (۲۰٤۷)

١ داعلیحضرت همایونی وینا ـ دملی شورادنهمې دورې دافتتاح په ورځ الف

٢ دملی شوری د ښاغلی رئیس وینا د

٣ دښاغلی سردار محمدداؤ دصدراعظم وینا دملګرو ملتو دمؤسسې دلسم تلین په ورځ و

	مضمون	لیکونکی	مخ
١	د پښتو روز نه او پالنه	ښاغلی لونګین	١
٢	پښتونستان د دنیا دمطبوعاتو په نظر کښې	اداره	٣
٣	نفسیاتی څېړنه	ښاغلی مولوی محمدشېر ګل رشید	٧
٤	غوښتی	« لونګین	١٣
٥	وروسلګوسره خندا راځی	« جوهر صدیقی	١٣
٦	څلوریځه	« ملنګ جان	١٤
٧	ژوندی احساسات	« عزیزالرحمن «ممنون»	١٦
٨	مال او واده	د « عزیز الرحمن «سیفی» تولونه	١٨
٩	خپل ځان وپېژنیء	« پېغله معصومهٔ «عصمتی»	٢٠
١٠	دانیس د ٣٤ کال ٥٦ ګڼه	« محمددین ژواک	٢٢
١١	د ګلاب ګل	« محمد یوسف «سابی»	٢٤
١٢	خبرونه	اداره	
١٣	سیر او سیاحت	« رښتین	٣٣

﴿دښاغلی سردار محمدداؤ دصدر اعظم کلیشه له پښتون زغ څخه اخستل شوې ده﴾

د اعلیحضرت همایوني وینا

دملي شورى د نهمې دورې د افتتاح په ورځ

د لوی څښتن په نامه دملي شورى نهمه دوره پرانیزو، دملت نمایندګان دمملکت له ټولې موقف څخه خبر دي. او دې ته ملتفت دي چه څه وظیفې ئې مخې ته پرتې دي.

ددې وظیفو سرته رسول، تر هر څه زیات ملګرتیا او همکارۍ ته اړه لري، له بله مرغه هر کله چه هدف یو، او فایدې شریکې دي، نو څه چه دحکومت آرزو ده، او څه چه خلک غواړي په هغه کښې څه فاصله نه لیدله کېږي،

هر کله چه زمونږ مهم مقصد دملت آرامي او سرلوړي دي، نو امېدار یو چه دخدای په توفیق، دخلکو په ملګرتیا، د نظامي موجودیت په وسیله چه دفردي او اجتماعي عدالت د ټینګولو ضامن بالل شي، او دغه شان داقتصادي لارو چارو په برابرولو چه دخلکو د ژوندانه سویه لوړه او بهتره کاندي، دغه مقصد لاس ته راوستلی شي.

لکه چه په دې وختونو کښې په مالي او تجارتي چارو کښې منظم تشکیلونه میدان ته راغلي دي، قاعده من قوانین جوړ شوي او تصویب شوي دي، په بودجې کښې د پراختیا او موازنې پیدا کولو، او په صادراتو او وارداتو کښې د پوره تنظیم او ساتلو کار دحکومت ډېرو ګرانو دورانديو والي دپاره، او په تېره د عامو ښېګړو او فوایدو په برخه کښې زمینه ډېره به تیاره کړي ده، زراعتي، عمراني او تجارتي بانکونه جوړ شوي دي، او په فعالیت ئې لاس پورې کړی دی.

هر کله چه د صنعتونو قوي کول دمملکت داقتصادیاتو په پراختیا کښې پوره تأثیر لري نو په دې برخه کښې دحکومت له خوا نه لازمي پلانونه ترتیب شوي دي او په ځینو فعالیتونو ئې لاس پورې کړی دی.

او دغه شان د لیارو او سړکونو په سمولو او جوړولو کښې چه دمواصلاتو اساس دي داقتصادي بنیاد په قوي کولو کښې ښکاره برخه لري، ډېر ډېر ګامونه اخیستل شوي دي. انتظار لرو چه په دې باره کښې دحکومت سره زیاته ملګرتیا وکړئ.

زمونږ خارجي سیاست دبې طرفۍ او ټولو دوستو ملتونو سره د دوستۍ د مناسباتو ټینګولو په اساس ټینګ ولاړ دی. دبې طرفۍ ساتل او ټینګول د همېشه دپاره زمونږ د دولت د سیاست محور دی او وي به.

حکومت د ملګرو ملتو د موسسې سره د یو ریښتینې عضو په حیث ملګری دی، او د نړۍ د سولې د ساتلو او د لانجو او کشالو د لیرې کولو د پاره ئې د هر قسم اقداماتو ملګرتیا کړې ده، د نا آزادو ملکونو د سیاسي حقوقو او آرزو ګانو او د بشر د حقوقو د احترام او عملي کولو په باره کښې ئې څرګنده برخه اخیستې ده، او دا اصل ئې د دنیا د سولې د ساتلو اساس ګڼلی دی او اوس ئې هم ګڼي.

څرنګه چه د نړۍ سولې ته، په اتومي قواوو باندې د انسان د تسلط له کبله خطر پیدا شوی دی او د نړۍ ټول خلك او ملکونه ئې په ویره کښې اچولي دي، د غسې مونږ ئې هم په اندېښنه کښې غورځولي یو. مونږ امېد او ارزو لرو چه لوی دولتونه د بشر قیمتي ژوند په تباهۍ کښې وا نه چوي. او دغه قوتونه د خپل ځان او خپلو هم نوعانو د خیر او نېك مرغۍ په لار کښې په کار واچوي.

د ایشیا او افریقا د ملکونو کنفرانس چه د سږ کال په پسرلي کښې په باندونګ کښې جوړ شو، د دې قارې او د جهان د سولې د پاره، یو خاص مقام او مهمه معنی لري.
ځکه چه د کنفرانس له اعلامیې څخه معلومه شوه، د نړۍ زیاتو خلکو د جهان د سولې د ساتلو د پاره خپله آرزو ښکاره کړې، او د سولې په عالم کښې ئې د بشر د حقوقو د پرنسیپونو عملي کول، د بین المللي مشکلاتو د لیرې کولو سبب بللی دی، مونږ امېدوار یو څرنګه چه ښایي، د بشریت جهان به په ټوله دنیا کښې د دغې آرزو قدر او احترام وکړي.
د پښتونستان غوښتنه چه د پښتونستان د خلکو له خوا نه شوې ده، د اسلامي مقرراتو، بین المللي اصولو، او د بشر د حقوقو په ټینګو اساسونو ولاړه ده، او د دغه عصر د روح سره چه مونږ پکښې ژوند کوو، موافقه ده. نو افغانستان په خپل بین المللي ژوند کښې، د پښتونستانیانو د منلو شویو حقوقو ملګرتیا او طرفداري کول، د خپلو اخلاقي ذمه واریو یو جز بولي. د افغانستان او پښتونستان د خلکو په منځ کښې د نژاد او تاریخ یووالی موجود دی، له دې کبله هره مخبره او هر کار چه په پښتونستان کښې، کلاری او مشکلات پیدا کړي. د افغانستان په خلکو کښې هم بې اثره نشي پاتې کېدلی. د افغانستان حکومت په هر تپ ډول د پاکستان له حکومت سره په تماس کښې دی او کوښښ ئې کړی دی چه د پښتونستان مسئله د سولې او بشري عدالت په اساس حل او فیصله کړي.
مګر د افغانستان د سولې او ښه نیت له نظریاتو سره د پاکستان د حکومت نه موافقت او د دوی د تهدیدونو ډك چلند چه په دې ورځو کښې ئې راخیستی دی، له افسوس نه ډکو

ښېښو ته خبره ورسوله او لاوړېسې د جهان د دې برخې په امن کښې کډې ودې پیدا کوي، له دې کبله بنایي چه د افغانستان حکومت د خپل بې طرفانه سیاست د ساتلو او د دې منطقې د امنیت د ټینګولو د پاره د هر قسم مشکلاتو په مقابل کښې د لازمي او ضروري تدبیرونو د پاره تیاری وکړي، په هر کار کښې زمونږ توکل په لوی ښتن؛ زمونږ تکیه په حقیقت او زمونږ باور د ملت په هغو پاکو او صمیمي احساساتو دی، چه دوی په هر وخت کښې ښکاره کړي دي.

د خدای له درباره څخه د افغان د نجیب ملت سعادت او سرلوړي او د بشري نړۍ آرامي او کلاري غواړو.

د ملي شوری

د ښاغلي رئيس وینا

اعلیحضرت زمونږ ګران پاچا!

د معظم ټولواك په تشریف راوړلو سره د ملي شوری د نهمې دورې پرانیستل د ملي حکومت نمونه ده، او د ملت نمایندګان ورباندې وياړي.

د ملت وکیلان د اعلیحضرت د دغه قانوني تکریم قدر کوي او د هغو په مخ کښې د راتلو نکو روښانو حالاتو هیله لري. د افغان ملت د اعلیحضرت د وجود چه د ملي یووالي محور او د اجتماعي ژوند شیرازه دی، په سر او سترګو او د زړه له اخلاصه احترام کوي او د ملت نمایندګان چه نن ورځ په ملي شوری کښې حاضر دي، خپل او د خپلو موکلینو محبت او ټینګه عقیده په ډېر اخلاص، د معظم ټولواك حضور ته تمثیل او وړاندې کوي، په هغې دنیا کښې چه نن ورځ ئې هره نقطه او دقیقه ئې د دقت وړ دی، د افغان ملت په دې خوشاله دی چه د معظم ټولواك تر حکیمانه لارښوونو لاندې د وخت، اتفاق او د یووالي له بله مرستې او کمك قدر ښه پېژندلی او په ډېر داده زړه د خپلو دیني او ملي وظیفو له اجرا کېدو څخه مستفید دی.

ښاغلی محمد نوروز د ملي شوری رئيس

په اوسنۍ دنیا کښې د افغان د ملت هر یو د خپل ځان او د نورو د انفرادي او اجتماعي ژوند په حقوق او منافعو او دغه راز د همکارۍ او خپلو وظیفو مسئولیتو په حقیقي مفهوم پوهېدلی، د مملکت د اوږدو او د هغه د پخواني لوی تاریخ د ساتلو د پاره په کلکه زیار باسي، څرګنده چه ملي شوری د اسلام د اجتماعي ژوند اساس او ستاسو د نامتو پلار اعلیحضرت شهید سعید محمد نادر شاه غازي رحمة الله علیه د دیانت پالو نکو او عدالت د افکارو له مخې په افغانستان کښې تاسیس شوېده. هیله ده چه ستاسو

د نېکبختۍ پاچاهي په وخت، لکه څنګه چه ليدل کېږي، لا زياته ترقي وکړي، او په نهمه دوره کښې له پښتوانه زيات خپل اساسي مراحل پوره کړي، او د افغان ملت د اجتماعي، مدني او حقوقي زيات عدالت د تعميلولو او د معارف د پراخولو په اثر له پخوانه زيات مسعود او د دري ګونو قواو ښه اجراآت او قانوني موفقيتونه او د ملت د ټولو طبقو نيکمرغي او سعادت حاصل کړي، په پاى کښې له لوی خدای (ج) څخه هيله کووم، چه د ملي شورى نهمه تقنينيه دوره د افغان د ملت خاورې ته د ترقي ور کولو او سعادت د پاره لوی او ګټور خدمتونه وکړي، چه د دنيا د نن ورځې او عصر په مقتضياتو برابر وي او د دنيا د نورو مترقي ملتو په اراو د خپل ګران مملکت په تاريخ کښې ښه او له افتخاره ډك يادګار پرېږدي، ژوندی دې وی اعليحضرت، تل او نېك بخت دې وی افغانستان.

د ښاغلي صدر اعظم وینا

چه د ملګرو ملتو د اتم تلین له کبله د سرطان په ۳ ماښام له کابل راډیو نه نشر شوه.

په ډېره خوشحالۍ سره خپلو ګرانو درنو هېوادوالو او د ملګرو ملتو خلکو ته د دې لویې ورځې مبارکي وایم او د نړۍ د سولې او نیک مرغۍ دپاره خپل سپېڅلي احساسات او د زړه له اخلاصه آرزوګانې ښکاره کوم.



ښاغلی سردار محمد داؤد صدر اعظم د کابل اډیو په سټوډیو کې د ملګرو ملتو د موسسې د جوړېدو د اتم تلین د مناسبت وینا کوي.

زه ډېر ویاړم چه هم د افغانستان د صدر اعظم په حیث او هم د خپلو شخصي آرزوګانو او هیلو په اساس د دې لویې ورځې په درناوي او احترام کښې چه د امن خوښوونکو او سولې غوښتونکو انسانانو په زړونو کښې ډېر قدر لري، برخه اخلم.

د دې ورځې درناوی په حقیقت کښې د بنیادم د شرافت او د انسان د هغو جګو ښېګڼو احترام ګڼل دی، چه هغه د ده د نیک مرغۍ او دادګرنې ضامنې دي.

کوم منشور چه په دې ورځ و منل شو او د ملګرو ملتو د موسسې د جوړېدو فکر ئې منځ ته راووېست، هغه د ډېرو ترخو تجربو او سختیو څخه وروسته چه په تېرو دورو او وختونو کښې د جنګونو او جګړو له کبله په انسانانو باندې تېرې شوې دي لاس ته راغلی دی، نو ځکه داسې یو فکر چه د انسان له زړه او دماغ نه د جنګ د خپسې منګولې وباسي او په داسې لیارئې روان کاندي، چه بې له سولې، روغې، کلارۍ او ورورۍ څخه، په کښې بل څه نه وي او د جنګ، تباهۍ، لوټ او یرغل په ځای په کښې دغه شیان منځ ته راشي نو دا بې شکه چه د بشریت ډېره جګه غایه او عالي آرزو ده او د ډېر عزت او احترام په سترګه ورته کتل کېږي.

د دې منشور مقصد او غرض دا دی چه، د نړۍ سوله د همېشه د پاره ټینګه وساتي
او راتلونکي نسل له هغو بدبختیو څخه وژغوري، چه د بشر د غرور او حرص په وجه په کښې
نن بابشریت نښتی دی .

د ملګرو ملتو د دغه منشور د جوړېدو لس کاله کېږي، افغانستان په دې دوه مره موده
کښې د دغه منشور له اساسونو سره خپله پوره ملګرتیا او پابندي ښکاره کړې او د بشري
ټولنې د یوه ډېر ټینګ او وفادار غړي په توګه يې خپله دنده په ځای کړې ده.

د دې موسسې له ثابتو سندونو څخه په ښه شان معلومېږي، چه افغانستان په ټولو فیصلو
او قضاوتونو کښې د حق او حقیقت لاره غوره کړې ده، او د ملګرو ملتو د ټولو
لویو وړو مسئلو د فیصلو په وخت کښې د خپل آزاد او بې طرفه چلند څخه نه دی اوښتی .
اوس هم په ډېره خوشحالۍ د ملګرو ملتو د لسمې کالیزې په وخت د دغې مؤسسې
له اساسونو سره پوره وفاداري څرګندوم، د نړۍ د سولې او کلارۍ د ساتنې، او د ملتو
د دوستۍ د ټینګونې په لار کښې د خپل ملک د نه بدلېدونکي سیاست ټینګتیا کووم
او وایم چه موږ د بشریت د عالي مرامونو د پاره د ملګرو ملتو د روښانه کارونو سره
کلک ملګري یو او په دې لیار کښې د ډېر نه ډېر زیار او کوښښ ته تیاریو .

که د تاریخ پاڼې واړوو نو په دې خبره کښې هیڅ شک نه پاتې کېږي چه د بشري ټولنو
آزادي او برابري او د دوی د حقوقو منل او احترام د نړۍ د دایمي سولې او کلارۍ
یو پوخ تهداو او بنسټ دی. له دې کبله د نړۍ د منشور د لسمې کلیزې په وخت دا هیله
ښکاره کووم، چه د ملګرو ملتو مؤسسه د هغو ټولنو آزادۍ او خپلواکۍ ته پوره
توجه وکړي، چه د خدای د دغه ډېر قیمتي او خوږ نعمت څخه په زوره اخیستل شوي دي
افغانستان د دنیا په هر کوټ کښې د ټولو انساني ټولنو آزادۍ او برابرۍ د بشري
تهذیب او منشور د اصولو یو ډېر غوره او لوړ اساس ګڼي او هیله کوي چه د ملګرو
ملتو ټولنه د خپل ژوندانه په دوهمه دوره کښې خپلې ټولې رښتیانۍ وعدې چه
په دغه باب کښې یې کړې دي، پوره او په ځای کړي .

به پای کښې دا هم خپله وظیفه بولم چه د ملګرو ملتو مرستې چه په افغانستان کښې
د نړۍ د شریکې مرستې له مخه د ژوندانه په بېلو بېلو برخو کښې کوم خدمتونه
کړي دي، د زړه له اخلاصه د هغو شکریه ادا کړم او ډېر قدر په سترګو ورته وګورم.

د پښتو روزنه او پالنه

د کابل مجله د پښتنو درنه سرمایه ده، که څه هم ددې سرمايې نه نقدې ګټه لږه ګوتو ته راځي، مګر راشئ چه ددې حقیقت وګورو او د درناوي علتو نه ولټوو. د پښتو او پښتونخوا خدمت کول روزل او ساتل د ټولو پښتنو ملي فریضه ده، او د خپلې وسې پورې د جامعې هر وګړی، وجداناً او ایماناً مکلف دی چه عملاً کار وکړي او د پښتو او پښتونخوا د ساتلو او لوړولو لارې چارې ولټوي هر کله که یو قوم وغواړي، چه خپل موجودیت ثابت او عملاً وښائي ژبه به ساتي او روزي به ئې. ځکه کله چه یوه قوم ژبه دلاسه ورکړې ده نو ملیت ئې بایلودی او بالاخره محوه شویدی. ژبه که څه هم طبیعي حدود لري، چه مملکتونه ئې جوړ کړیدي، مګر که په طبیعي حدودو پاتې شي او ونه روزل شي نو د استعماري جالونو ښکار کیږي او محو کیږي. په هر قوم کې چه دخودۍ او اعتماد ماده ژوندۍ وي، هغوی خپلې ژبې روزلې او پاللې دي. ژبه حاکمیت ټینګوي او روزنه ئې سیاسي درتبت زیاتوي. څوک چه خپله ژبه نه لري او آزادي نه لري څوک چه آزادي نه لري، د ژوندانه له خونده محروم دي. زمونږ د پښتونستان ننۍ دعوه د هر څه نه مخکښې د ژبې په اساس بنا ده او مونږ د احق لرو چه د هغوی سره د ورورۍ او همدردۍ ملګرتیا وکړو. ژبه د قوم اهلیت او لیاقت ثابتوي او چه ژبه نه لري اهلیت هم نه لري. پښتو د پښتونخوا اوسنۍ ژبه نه ده چه ګوندې اوس ئې مونږ ملاتړ او رشد ورکوو. د تاریخ د شروع نه پښتو درنه پښتو ده، ځکه سره ددې د ډېرو ګڼکلو او طوفانونو چه په دې خاوره راغلي او پښتانه ئې د پښتو نه غوزولي دي، پښتو که څه هم د حریفانو په ډېرو کوششونو ضعیفه شوه مګر بیا ئې هم خپل موجودیت دلاسه ور نه کړ او په پښتونخوا خوره پاتې شوه پښتانه په پښتو پښتانه دي او چه پښتو نه وي پښتانه به هم پاتې نشي پښتو ځانله ویل نه دي بلکه پښتو **کول**، پښتو روزل پښتو لیکل او پښتو پالل دي. پښتو د پښتنو حیاراتو لوی او پښتو د پښتنو د اخلاقو نمونه ده. پښتو د پښتنو د ژوندانه مالګه ده او د بې پښتو ئې ژوندون پیکه دی. ژبه د حکومت نظام او ملي وحدت ټینګوي

پښتو د پښتنو د عظمت او لوئی
نښه ده، او بې پښتو پښتون نه دی.
پښتو د پښتنو د ښایست پلوشه
او ظرفیت دی. پښتو د پښتنو
د حوصلې کهکشان
او د امید پنګه ده.
پښتو د پښتنو عقیده او ایمان دی
او په دې لار کې د مرګه ډار
ګناه ده، پښتو هر پښتانه ته
ګرانه او خوږه ده، ځکه
پښتو د پښتنو د موجودیت ضمانت
کوي، پښتو د پښتنو آزادي ګټي.
پښتو پښتنو ته د ورورولۍ او
همدردۍ درس وایي
او د خانخانۍ کلکه مخالفه ده،
پښتو د پښتنو د لوړتیا
ذمه واره او د حق سپر دی
پښتو د پښتنو او پښتانه د پښتو دی
د دوی بېلتون هیڅکله نشي
راتلی او که راشي، نو د دواړو
ورکاوی دی. د قومونو مرګ
وژوند د ژبې پورې تړلی او بې
ژبې قومونه او ملتونه ژوندي نه دي
اوس راځو چه پښتو وګورو
چه څه شی او څه وائي او د پښتانه
په ژوندانه څه اثر لري؟
د ظلم مخه نیول او د ظالم په مقابل
کښې د مظلوم ملګرتیا پښتو ده.
انسان او انسانیت ته په درنه
سترګه کتل او د انسانیت روزل
پښتو ده، پښتو د راستۍ او صداقت
تهداب او د تنګۍ برګۍ او په
دښمنه ده. د بشریت خدمت او د
همنوعی رازونه په پښتو کې دي.
پښتو د خودۍ او عزت النفس تومنه
او د عدالت او انصاف لارښوونکې
ده. پښتو د پښتنولۍ او قومیت
مور او د آزادۍ بنیاد دی.
پښتو وائي: راغوند شئ،
ورورولي وکئ، یو د بل په
حال خبر او په غم غمجن شئ
یو په بل اعتماد ولرئ. یو د بل
قدر وکړئ، یو بل ته په درنه
وګورئ، یو بل ته سپکه مه وائئ
یو د بل سپینې مه وهئ، یو بل
ته کوهی مه کنئ او یو بل
په مادیاتو مه خرڅوئ، ژبه
د تاریخي عنعناتو ملي رسومو
او رواجونو مور او د ژوندانه
ابتدائي روح دی. د هر قوم
چه ژبه کمزورې ده دانه ئي
هم یا ضعیفه او یا نامکمله ده.
کله چه دا خبره ثابته شوه چه
پښتون کالبوت او پښتو روح
دی نو اوس به هغه لارې وګورو
چه دا روح په بدن کې وساتلی شي
ځکه مونږ ټول پښتانه
یو او غیر د روحه ژوند نه کېږي.
لکه څرنګه چه په هر ملک
کې حکومت او ملت د علم و
معرفت د خپرولو او زیاتولو
ذمه وار دی په همدې اندازه
د ژبې د صحافت او ثقافت ذمه
واري هم په اولس او واکمنو
ده او د روزنې او پالنې فرض ئې
په دواړو پوشان راځي که
د دې فرض احساس په هغه رنګ
چه باید او شاید وشي نو د پښتو
ژبې په روښانه او ځلانده
راتلونکې کې هیڅ شک نشي پاتې
کیدی ځکه د پښتو ادب د پخوانه
ډېر روښانه راغلی او اوس هم
ډېر خوازه او اوچت استادان
لري.
کابل مجلې د جامعې د یوه فرد
په حیث تر اوسه دا زیار
ویستلی دی چه د پښتو اجتماعي
ادبي، علمي او تاریخي
خواګانې ولټوي او د پښتنو
ذوق وروزي. دا درونده پېټی
چه هیڅکله یو فرد او یا یوه
(پاتې په څلورم مخ کښې)

پښتونستان د دنیا

د مطبوعاتو په نظر کښې

په دې ورځو کښې د پښتونستان
موضوع او بیا د افغانستان او
پاکستان تر منځه بحراني حالت
د دنیا په سیاسي فضا کښې لویه هنګامه
اچولې ده، او د بهرو مملکتو
جریدو، مجلو او ورځپاڼو پرې
اوږدې مقالې لیکلې دي چه
دادی مونږ ئې د ښاغلو
لوستونکو د خبرتیا د پاره
دلته خپروو:
(کانټم پوري ریویو) نومې
یوه انګلیس مشهوره مجله
په خپله وروستۍ ګڼه کښې
داسې لیکي پښتانه د پخوانیو

غربي امپراطوریو له
سابقې څخه ناوړه خاطرات
لري، دوی په اتیا کلو کښې
(۱۸٤۰) او ۱۹۲۰) په منځ
کښې د پر ځله له بریتانیې
سره په جګړه بوخت شوي دي
او یو ځل هم د دوی او زاري
روسیې تر منځ سخته جګړه پېښه
شوې ده هغه روحي او مالي
زیانونه چه پښتنو ته د بریتانیې
له خوا پېښ شوي دي تر اوسه
ندي تلافي شوي، په تېره بیا په
۱۸۷۸ او ۱۸۷۹ کال کښې
د پښتنو او انګلیس په دوهمه

جګړه کښې د ځمکو له لاسه ایستل
او د بریتانیې له خوا د افغانستان
د خارجي سیاست کنترول ول
چه د پښتنو او انګلیس تر دریمې
جګړې پورې ئې دوام لاره، یو لوی
زیان دی آسیا ته د بریتانیا
دوږ تګ نه وروسته افغانستان
قوي او با نفوذه پاچاهي لرله
چه د هند په لویه برخه ئې حکم
چلاوه، د انګلیس جګړو
افغانستان څخه یو کمکی فقیر
په وچه کښې محصور کړی
مملکت جوړ کړی دی،
چه د مدنیت له کاروان څخه بېرته
پاتې شوی دی دا هم د پام وړ ده
چه افغانستان د پښتنو قبایلو
د پاره چه د یو رنګ د خط په اثر
له خپل اصلي وطن څخه جلا
شوي دي د آزادۍ او عدالت
د پاره په خپله ادعا کښې د ځان سره
د دوی د تړلو غوښتنه نه ده کړې
او یواځې دا غواړي چه
دغه پښتانه قبایل د پاکستان
له استعماري ادارې څخه خلاص
شي او خپل سرنوشت پخپله
وټاکي پښتانه نه هیڅ کله
نه د قانون له مخې او نه په رښتیا
سره د بریتانیې اتباع ګڼل شوي دي

او څو ځله نظا می عملیا ت
او هوائی بمبارۍ بې نتیجــی
پاتې شوی دی او دائې له وسې
نده شوی چه دوی مطیع او فرمان
بردار کړي. سره له دغه بر یتا نیې
خلاف له هغو موافقو چه لــه
افغانستان سره ئې لر لې پــه
(۱۹٤۷) کـا ل کښــې دوی
د پا کستان لاس ته وسپار ل.
پا کستان پــه ټینګـا ر ســره
دافغا نا نو یا دپښتنو په ادعا د غور
کو لو مسئله ردوی. پښتا نه او س
غواړی چه دپښتو نستان په نامه
یو خپلوا کی دولت جوړ کړی
او سنی حالت د خطر و امکـان
لری او دافغا نستان ر وابطه له
بریتا نیې پا کستان او امریکې سره
که څه هم په رسمی ډول عادی ور ته
ویل کیږی خو له همدغه امله لـکه
څنګه چه ښائی دوستانه. نه دی .
د سیاست ورځپا نه چه په
تهران کښې چاپیږی په خپلو
وروستیو ګڼو کښې داسې لیکی:
پښتو نستــا ن د افغا نستــان
او پا کستان په منځ کښې یوه
ار ته سرحدی منطقه ده ' چــه
د هغه ځای خلك د قبا یلیا نو
په ډول ژوند کوی او دوخت
او فر هنـګ او رسومو له مخې
له افغا نستا ن غوندې دی .
خو څر نـګه چه د پا کستان دولت
په هغه ځای کښې ځان دا نـګلیس
دحکومت وارث او جا نشین بو لی
نو ځکه غواړی چه پښتو نستان
په دغه دولت پورې وتړل شی.
خو رښتیا خبره داده چه پښتا نه
آزادۍ غوښتو نـکی او سوله
خو ښو نـکی خلك دی؛ غواړی
چه دملګرو ملتو دمنشور څخه
داستفادې په نیت آزاد پاتې شی'
خو نه داسې چه د دغه دولت
تابع او یا ددغه حکومت دلاسه
ناست وی .
سر بیره پر دې افغا نستان هم په
رسمی ډول اعلام کړی دی '
چه پښتو نستان ته ئې ستر ګې
نه دی نیولی . دغه ایرا نی
جریده د خپلو بیا نا تو په پای

(ددویم مخ پاتې)
کو رنۍ ئې دبار لا ندې او چتیږدی
نشی کابل مجلې یه یوازی سر
اخیستی او تر او سه ئې په او ږو
پروت دی پښتو د پښتنو دمینې
د نیا ده او بې پښتو ګۍ پیغور
دی. ځکه دپښتو غم او در دخندا
خوشالی ټول دپښتا نه دی ددې دپاره
چه پښتو بیا خپل تاریخي دور
دسره راو نیسی په وړ ین تندی
دوړو خلمو 'مېند واو خوینډو
ګډې همکـارۍ ته اړ ده په دو مره
وخت کې لـکه د کـابل مجلې
تاریخ چه ښیی او س باید دی مجلې
خپل د پر مراحل وهلې او په ډ یره
لوړه او ممتازه دوره کې روانه
وی ددې علت ره صرف دپښتنو بې
ذوقی او بې التفا تی بو لم او که ایز
سخت وو ایم نو خجالت دې او بس.
په اخر کـې دلو یه خدایه
غوارم چه دپښتو د پر مخ تـګ
دپاره زمو نږ په عزم او اراده
کې متا نت زیا ت او تو فیق
را کړ ی .
چه ز مو نږ د ملی نا مو س
سا تو نکې ژبه پښتو د پو هوا و
پیاوړو لیکوالو او شاعرانو په
مرسته د پرزر داوړ تیا مراحل
طی او ددنیا دمستقلو او ښکاره
ژبو په لړ کې ودریږ ي

خدا یه ته شې په د نیا کښې نـګـا با ن د پښتو ژ بې
خدایه ډ یر کړې پښتنو کښې غمخو ا ر ا ن دپښتو ژبې.

(اونګین)

کښې داسې نظریه ورکوي: د دغې پېښې په باب کښې د دغو دولتو د بحث او ادعانه پرته کوم وخت چه د پاکستان لنډه تاریخچه وګورو راته څرګندېږي چه پاکستان یو نوی جوړ شوی دولت دی؛ غواړي د دنیا په نورو ځایو کښې له خپلو تاریخي سوابقو څخه استفاده وکړي او په خاصو عملیاتو خپل ګاوندیان وویروي او په دغه ډول ځان ته نوی موقعیت پیدا کړي.

دامستردام (الخمین هندسن بلاد) نومې هالینډۍ ورځپاڼه په خپله یوه وروستۍ ګڼه کښې داسې تبصره کوي:

په دې ورځو کښې د افغانستان او پاکستان ترمنځ سیاسي مخالفت ناڅاپه سخت شوی دی، او د دنیا تولنې ئې اندېښمنې کړې دی، د دغو دوو ګاوندیو مملکتو ترمنځ دا څو موده کېږي، چه یو سخت مخالفت شته دی، او دغه مخالفت په دې اساس دی چه: پاکستان غواړي چه د شمال غربي سرحد سیمې چه د (ایر بارډ کمپلنګ) انګریزي لیکونکي د اشارونه ئې شهرت موندلی دی، په غربي پاکستان کښې ننه باسي، د دې سیمې خلک چه شمېر ئې اوو میلونو ته رسېږي او په خټه پښتانه دي، غواړي چه د پښتونستان په نامه یو خپلواك مملکت جوړ کړي.

او په دغې دعوه کښې افغانستان د هغو سره مرسته او ملګرتیا کوي، هالینډۍ ورځپاڼه په آخر کښې پاکستان ته توصیه کوي چه د داسې اقدام کولو نه ځان وساتي، چه د دنیا په دې حساسه سیمه کښې د اختلاف او ټکر پېښېدو سبب کېږي.

(آلمان دی ولت) ورځپاڼې چه په هامبورګ کښې خپرېږي په خپله یوه وروستۍ ګڼه کښې د (خیبر په دره کښې د تالندې او برښنا طوفان) تر عنوان لاندې د شیفر د سیاسي نامتو لیکوال په قلم یوه مقاله خپره کړېده، چه د هغې غوره مطالب په دې ډول دي:

آسیا د فارموسا او هندچین په شان ډېر سیاسي مشکلات نه لرل، خو اوس طوفاني وریځې د خیبر په دره باندې هم پیدا شوي دي. دغه دوه مسلمان مملکتونه چه څو موده پخوا ئې د باندونګ په جرګه کښې ګډون کړی ؤ، اوس ئې په منځ کښې سختې شخړې پېښې شوې دي، تر دې چه د دوی ترمنځ د سیاسي روابطو د شلېدو انتظار کېږي.

دغه شخړې د پښتونستان یعنې د پښتنو د مملکت د مسلې په اساس شوې دي، پښتونستان د افغانستان او پاکستان ترمنځ د لوېې علاقې (متعلق په هیڅچا) په حیث پروت دی، په (۱۹) پېړۍ کښې چه انګلستان د هندوستان خواته د روسیې له

پرمخ تګ څخه په وړه کښې ؤ غوښتل ئې چه دغو ځمکو په باب کښې دافغانستان سره کومې مفاهمې ته ورسیږي، چه له دې پرو سیاسي لویو اوږدو خبرو اترو نه وروسته ئې و کولای شو چه دډیورنډ فرضي او موهوم خط دهغه وخت دافغانستان پرحکومت ومني. ددغه موهوم خط نوم هم له (سر مور تیمر ډیورنډ) څخه چه په ۱۸۹٤ کال کښې ئې دانګلیس ددولت له خوا د نماینده په حیث دغه تړون کړی ؤ، اخیستل شوی دی.

وروسته له هغه دډیورنډ دخط یوه خوا ځمکې دافغانستان تر نفوذ او بله خوائې دبرېتانوی هند تر نفوذ لاندې راغلې. خودځوورو ستیو کالونه را په دې خوا، دخپلواکۍ نهضت اودملتونو درا بیدارېدو بنکاره کولو حق دخیبر په غرو کښې هم سرایت کړی دی، او په پای کښې ددغې علاقې اوسېدونکي (۱۰) میلیونه کسان خپل ځان ته دپښتونستان په نامه یو آزاد دولت غواړي دغه دولت چه دموجودیدو په حال کښې دی، دافغانستان او پاکستان ترمنځ ئې سخت اختلاف پیدا کړی دی ..ځکه کابل ددغه دولت دجوړیدو طرفداردی او کراچی مخالفت ورسره کوی. په عین زمان کښې په پاکستان کښې هم ځینې تحولات پېښ شوي دي، او غلام محمد دپاکستان ګورنر جنرال پخپله رسمي وینا کښې اعلام وکړ، اوهم ئې نوی فرمان صادر کړ، چه دهغه له مخې دغربي پاکستان څخه یو اداري یونټ جوړ کړي اوشمال غربي ایالت به هم چه دخیبر دره پکښې ده او پېښور ئې مرکز دی، په دغه یو یونټ کښې شامل کړي او داسې څرګندیږي، چه دخیبر ددرې شمالي ځمکې چه تر اداري لاندې او دډیورنډ دخط دمنطقو په منځ کښې دی، هم په دغه یونټ کښې راننباسی.

افغانستان په دې عقیده دی» چه د پاکستان آخرني مقصد د همدغو ځمکو نیول دي، نو له دغه امله ئې سخت یاد داشت کراچۍ ته استولی دی اود غربي پاکستان په یو یونټ کښې ئې ددغو علاقو د ګډولو په باره کښې پروتست ورباندې کړی دی» او همدغه مسئله د دوا ړو مملکتو تر منځ دسیاسي سخت وراتوالي سبب شوي دي، چه د ټولې دنیا د خلکو سترګې ور اوښتې دي.

داؤ دپښتونستان په موضوع کښې ددنیا دمشهورو مجلواو او ورځپاڼو داځرو مقالو او تبصرو لنډ مطالب.

کابل مجله ددغو مجلو او جرائدو او دهغو بیا غلو لیکوالو حق پسندۍ ته دقدر په سترګو ګوري، او دحق او حقیقت دقیام او طرفدارۍ په لیاره کښې ئې کامیابي او بري غواړي.

نفسیاتی څېړنه

مولوی محمد شېر گل رشید

دحواسو بیان

متکلمین یوازې ظاهری پنځه حواس مني او باطني حواس نه مني، او فلاسفه باطني پنځه حواس هم مني، د متکلمینو په نزد او ددوی په عقیده جزئیات او کلیات روح دی، جزئیاتو او کلیاتو دواړو ته روح وایي او د فلاسفه وو په نزد د جزئیاتو او کلیاتو ادراك د عقل حضور ته وروړاندې کوی لکه څنګه چه د علم په تعریف کښې دی، چه علم دیوشي حاصل شوی صورت دی عقل ته.

نو د تو لو تعریفو نو اند مطلب دادی! چه عقل ته یو شی حاضرشي، نو علم بلل کېږی، زیات تفصیل یې په منطق کښې شته. که چېرې موقع برابره شوه نو بیا غلي لو ستو نکی به یې د کابل په مجله کښې و لولی اوس ظاهری پنځه حواس بیانوو!

ظاهری پنځه حواس دادی!-۱:- سترګې ۲- غوږ ۳-پزه، ٤-ژبه. ٥:-ظاهرد ټول بدن په سترګو لید ل، کتل کوو په غوږو نو اوازونه اوغږونه اورو، په پزه شیان بو یوو، په ژبه خوند او مزه معلوموو، او په ظاهری بدن څېزونه مسه کوو او دهغو کلکوالی، پوستوالی سوړ والی، تودوالی معلوموو نو داپنځه قوتونه، لیدنه کتنه (باصره) اوریدنه (سامعه) بویونه (شامه) خوند او مزه معلومونه (ذایقه) حالت معلومونه (لامسه)

قوت په ټول بدن کښې خوردی، خود کوټوپه سر و نو کښې ډېر زیات دی حیوان په لامسه قوت حیوان بلل کېږي!

دباطني حواسو بیان:

مونږ غواړو چه د باطني حواسو هم څه لږ ډېر معلو مات و ډ پاره بیان وکړو.

اول باطني حس، مشترك حس دی هرڅه چه په ظا هری حوا سو معلو مېږی، نو دهغې صورتونه په مشترك حس کښې را ټولېږی، او د دماغ دمخکېنۍ کېږ ې په اوله برخه کښې ځای نیسی لکه د باران یو څاڅکی چه دوربد اوپه وخت کښې یوه نېغه لیکه (خطمستقیم) معلومېږی او حال دادی چه هغه یو څاڅکی وی، نو څرګنده شوه چه د ړومبی څاڅکی صورت چه د سترګو حس معلوم کړی و، نو څنګه چه هغه څاڅکی دسترګو له حس نه زر تېرشو، نو د هغه صورت په مشترك حس کښې جمع شو، او څنګه چه د باران بل څاڅکی هم دسترګو له حس نه تېرشو، نو دهغه صورت هم په مشترك حس کښې جمع شو، نو له دې کبله

يوځا ځكې په نظر كښې يوه كړنه ښكاري.

دوهم حس ،خيال دى، چه د دماغ د مخكښني كېدې په آخره نې برخه كښې ځاى نيولى دى، او د مشترك حس د معلوماتو او د مدركاتو ساتونكى او ساتندوى دى، نو ټول هغه شيزونه د خيال په حس كښې جمع وى، چه هغه مو نېز يو مېنى ليدلې وى او مونږ يې بيا پېژنو چه دا هغه شيز يا هغه شيزونه دى چه مونږ پخوا ليدلې وو.

۳ـ دريم حس هغه قوت دى، چه د مشترك حس له ادراكاتو نه، چه د جزئي جزئي معانيو ادراكات كوى، لكه وزې، پسونه او نور حيوانات، څنګه چه په مدركه صورت په عمومي ډول زمرى د ټولو حيواناتو سره دښمني لرى، خو بالعكس د خپل بچي سره مينه او محبت لرى، چه ور ته «وهم» او كله ور ته «تخيل» ويل كېږى او د دماغ د كېدې په مېنځنۍ برخه كښې ځاى نيولى دى.

٤:ـ څلورم حس هغو قوة دى، چه په هغه كښې ټولې جزئيه معاني جمع شوې وى، او د جزئيه معانيو خزانه او زېرمه وى. د حافظې او د يادداشت قوه ور ته وايي.

٥:ـ پنځم حس، هغه قوة دى، چه عموما په ټولو اشيا و او شيزونو كښې هر راز تصرف كوى، لكه چه يو سړى داسې تصور كوى، چه يو بنيادم ته شل سرونه او لس پښې او سرېې لكه د بنيادم غوندې لاندې او بل راز وى او يا سرېې لكه پيل او نورغړى اندامونه لكه د بنيادم غوندې وى او يا نيم د بنيادم په څېر او نيم د زمرى په شان وى او يا داسې نور ټول خيالونه چه يو سړى يې له ځان سره خيال كوى، دې ته متصرفه قوة ويلې شي ـ نو د باطني حواسو پنځه قوې دادى:ـ

۱:ـ مشترك حس ـ ۲:ـ خيال ۳:ـ وهم ـ ٤:ـ حافظه (د يادداشت قوه) ٥:ـ متصرفه قوه هغه امور او شيز ونه چه په ظاهري حواسو معلومېږې، هغو ته مشاهدات وايى.

او هغه چه په باطني حواسو معلومېږى، هغو ته وجدانيات وايى، وجدانيات د وجداني جمع ده، هر شيز چه د باطني حواسو په ذريعه معلومېږى، او ادراك يې كېږى، هغه ته وجداني وايي او وجدان نفس ته هم وايي، ځكه هر څوك چه كوم شيز (شى) ور ته له خپل نفس او ځان نه پيدا كېږى او له خپل نفس نه يې مومى، او يا يې په باطني حواسو ادراك كوى، هغه وجداني وى.

حسي ادراك په درې شرطونو پورې مشروط دى.

الف:ـ د شى (شيز) ماده، د مدركې قوة ته حاضره وى.

ب:ـ د ماده دې هيئت دې محفوظ او ساتلى وى.

ج:ـ هر شيز چه مدركه قوه ادراك كوى، بنا يى چه هغه شى دې جزئي وى، نه كلي. د لته د زيات وضاحت د پاره يو بله اشاره هم كوو.

۱:ـ د شى احساس او ادراك دې، په حاضره او موجوده ماده كښې په محسوسه او مخصوصه (ځانى) هيئت مدرك ته موجود وى.

۲:ـ خيالى ادراك دى، چه په هغه كښې د ماده دې حاضرېدل او موجودېدل شرط نه دى، هو! د و مره خبره شته چه د ماده دې

هیئت دي محفوظ او ساتلی شوی وی.

معلوم او مدرك (د«ر» په زور) دي جزئی وی نه کلی لکه دي کبله چه په وجدانی معلوماتو کښي باطني حواس وی، نو ځکه ورته وجداني وايي.

نفسانی قوه

د بنیادم په نفس کښي د عملي شوقي قوي په سبب، مختلف اثار او ښني پیدا کیږي نو دهغي له کبله په بینا دم مختلف حالتونه راځی لکه خندا چه د تعجب په سبب پیدا کیږي هم په دي ډول نور حالتونه په نفس غوڅیږی لکه حیائی خجالت، شرمندګي وېره رنځ، الم، خوښی او خوشحالی بې زړه توب، زړورتیا ـ حوصله ـ نرمی ـ غضب او داسي نور نفسانی تاثیرات دی کامل قدرت د ربنیادم په وجود کښي يو روحانی لطیف جسم پیدا کړېدی، چه د بدن او د وجود له حیث نه، نه معلومیږي نو حکماو هغه د لطافت او جرأت په اعتبار په دري نومو نو یاد کړی دی ۱ :- نفسانی روح - ۲ :- حیوانی روح -۳:- طبیعی روح -

دا لطیف روح د عالم اجسام او د عالم عقول په منځ کښي دی، نفسانی طاقتونه ور باندي سواره شوی، د وجود په هرغړی (اندام) کښي ننوځی، د دي روح ماده داخلاطو د لطیفه بخاراتو څخه پیدا کیږی ـ او له هغه نه غړی (اندامونه) تیاریږي، او د اخلاطو له خلاصي او کوچونه روح پیدا کیږي ـ قول حکیمانو او طبیبانو په دي باندي متفق او کلك دی، چه راحت او زحمت ـ وېره او غضب ـ لذت (خوند او مزه) ـ درد او الم ـ او داسي نور، د حیوانی روح د حالاتو تابع دی --د حیوانی روح، لطیفه برخه، په خپل ځرنګه والی او اندازه کښي په اعتدال وی ـ هر کله چه سبب د خوند او د خوشحالی پیدا شی، نو په انسانی روح کښي مزه او خوښي او انبساط پیدا کیږي چه له هغه نه په بدن کښي تازه ګی ـ او بشاشت حاصلیږي ـ او د بنیام په اخیره د صفا وینو لښې ځرګندیږی او هر کله چه په نفس باندي ـ وېره ـ درد او غم او لم غلبه شی، نو روح د ننه خواته دق او خفه (منقبض شی او وینه هم کلک وا لی ته ګوا لي پیدا کوی ـ لکه څنګه چه د نفسانی قوي سورلی روح دی هم دارنګه د روح سورلی وینه ده ـ ځکه چه د وینې په حرکت روح کله د ننه حرکت کوی او کله بیرون خوا ته حرکت کوی، نو ددی کیفیاتو په مناسبت وینې ته حرکت ور کوی ـ

ابن سینا ویلی دی چه د ډېره صافه وینه چه قوام او ټینګوالی یې معتدل وی نو ارو مرو فرحت او خوشحالی پیدا کوی ـ ټینګه او ختله وینه د رنځ د زحمت ـ د خپګان سبب کیږي ځکه چه له دینه مکدر او غمجن روح پیدا کیږي ـ حیوانی روح د بنیادم د افعالو مصدر او ژوندون ده

داللهي روح وظيفه او کار

د بنیادم د وجود ټول ذاتي او مجرد اندامونه که لوی دي یا واړه، که مونږ پېژنو یا نه، وینو ويې یا یې نه وینو، ځانله ځانله جلا جلا وظیفې او بېل بېل کارونه لري، چه په هغو پاندې د وجود فابریکه. چالانه ده او هر ډول ایجادات، صنعتونه حرفتونه په کښې سنجیږي او میدان ته راوځي - یاد اوېلی شو چه د بنیادم وجود د لکه یو جمهوري حکومت دی، چه د ملت له خوا نه ملي شورا او د حکومت له خوا نه د وزیرانو کابینه او صدر اعظم د (وزیرانو رئیس) او باد شاه لري - چه د صدراعظم په انتخاب هر یو وزیر د خپل وزارت په ځای (مقام) د خپل حال ور ځانله ځانله وظیفې او مهم مهم کارونه لري چه هر وزارت له څو څو ریاستونو، مدیریتونو او مامورېتونو..... څخه تشکیل او جوړ شوی دی، د مثال په ډول وایم چه یو له هغو نه د ستر کو وزارت دی، د دې وزارت د وزیر کار او وظیفه لیدنه کتنه ده. د او وزارت له یو څو ریاستونو او مدیریتو (اعضاو او اجزاو) څخه تشکیل شوی او جوړ شوی دی - چه په تشریح پوه خلك هغه بیلولی شي، د هر یو کار او او وظیفې پېژني، په دې ډول د وجود نور وزارتونه هم دروا خله.

اوس اصل مطلب ته راځو چه روح اللهي لکه د یو مملکت پاد شاه. د انسان د انسانیت د بشپړ کېدلو د پاره ټول عقلي تدبیرونه، ډول په ډول ښه ښه ایجادات، ښا یسته ښا یسته او پاخه پاخه راز په راز صنعتونه، د هر ښه ښه حرفتونه، پېژندنه د خپل خالق ښیي. او د وجود ټول ارکانو ته یې ورسپاري، خو د اللهي روح له ټولو نه زړو مهمه وظیفه د خدای پېژندنه ده. وظیفې او کارونه هر چا ته وسپارل شو، خو اوس د دې کارونو د اجرا کولو د پاره څه څه لازم دي؟ د وجود د کارونو او د افعالو د صادر بدلو د پاره دادوه شیزونه ضروري او لازم دي،

۱ : - قدرت، و وسه - ۲ - او بیا ورپسې اراده او تکل.

د قدرت او وسې پېژندنه

قدرت د وجود یو وصف دی، چه د یو شي ایجادا و احداث د خپل موصوف په ذریعه له چا نه او چاته کوي، چه مونږ یې صفت ذاتي ته قادر او ذات ته موصوف او د اموصوف (ذات) فاعل (کار کوونکی) بلل کیږي چه د فعل په کولو داسې قادر وي، چه د کار (فعل) کول او نه کول ورته په خپل قدرت واړه یو راز او برابر وي، د فعل د صادر یدلو او د کار د کولو په وخت کښې قدرت سم ور سره وي، د قدرت په واسطه - فعل او کار اجرا کیږي او ځای ته رسي، چه له دېنه هیڅوك انکار کولی نه شي - خو دومره خبره ده! چه قدرت پخوا له فعل نه، بالقوه وي.

او ځینو کسانو ویلی دي قدرت بالفعل وي، قدرت بالقوه نه وي، خو دادنا پوهانو خبره ده له دېنه د قدرت او وسې زیاته

پېژندنه، دفقې د اصولو له کتابو نه ګټه کېدلی شي.

اراده او تکل

مونږ غواړو چه اېږغو نږدې دارادې او دتکل بحث او بیان هم وکړو او دخپلو لوستونکو سره یې ساعت تېر کړو. اراده او تکل دنفساني کیفیاتو څخه دي، معنایې دعقل په نزد څرګنده ده دا یو فعلي اسم دی چه د «کول او کېدل» په واسطه ترېنه مصدر جوړېږي او بیا ترېنه قول او هر راز افعال او فعلي صفات لاس ته راځي چه یو فاعل دارادې او تکل په واسطه یو مقدور ته په بل مقدور ترجیح ورکوي لکه یو فاعل (کوونکی) څخه دتکل او ارادې لاندې دوه مقدوره (کول او نه کول) موجود دي، هر یو ته چه دتکل څښتن ترجیح ورکوي هغه کوي او دتکل لاندې هغه مرجح عملي کوي. اراده کله دخواهش او غوښت سره سمه او برابره وي او کله کله مغایره هم راځي هغه تکل او اراده چه دطبیعت دخواهش او غوښت سره سمه او برابره وي په هغې عموماً هرڅوک پوهېږي لکه چه طبیعت به شی به غذا خواږه غواړي په دې کښې غوښت او تکل دواړه موجود دي او کله کله داسې هم پېښېږي چه یو شی طبیعت نه غواړي خو دتکل او ارادې په قوت سره هغه کار کېږي لکه دتریخو دارو خوړل یا ځان په کړاو کښې اچول او داسې نور نور او کله داسې هم کېږي چه طبیعت یو شی غواړي خو تکل او اراده یې نه کوي، لکه یو ډېر خوږ او مزېدار طعام او یا کوم بل شی چه روغتیا او صحت ته مضر وي.

په دې ا کله معتزله خپله نظریه داسې ښکاره کوي چه تکل او اراده دنفعې اعتقاد یا دنفعې ګمان دی ځکه چه اه دوو خواو نه یوې خواته کول دي او بلې خواته نه کول دي دواړه برابر دي.

نو په کوم وخت کښې چه دنفعې اعتقاد او یا ګمان په زړه کښې حاصل شو نو هغه ته فاعل مختار ترجیح ورکوي. او یو کار په بل کار ښه او سودمن ګڼي. نو هر کله چه انسان دیو کار تکل وکړ او په خپل تکل کلک او ټینګ ؤ او په کړاوونو دردونو او په ډېرو سختیو یې صبر وکړ او په نوړ همت یې داټول وځغمل نو دا حقیقي اورښتني تکل او اراده ده.

نو قدرت او وسه دتکل سره دفعل د کېدلو سبب کېدلی شي نه یوازې قدرت بې له ارادې کار کولی شي او نه یوازې اراده او تکل بې له قدرت او وسې نه کار کولی شي ځکه چه ډېر ځله دسړي دیو کار تکل وي خو وسه یې نه وي داسړی هغه کار نه شي کولی ځکه چه وسه او قدرت یې نه لري لکه دیو بې وسې سړي دحج کولو

یا دیوې ښې ږدانۍ کولو تکل او اراده شته خو قدرت یې نه لري چه حج ته لاړ شي او یا یوه ښه ودانۍ وکړی شي.

او هم دا رنګه یو بې ارا دې او بې تکله سړی دیو کار کولو وسه او قدرت لري خو دهغه کار اراده او تکل نه لري نو یوازې په وسه او قدرت هم کار ته کېږي. دلته هم دوا ړه غواړي نو په دې بې فصله کړو چه د واړه دیو بل سره لازم او ملزوم دي او دواړه دیو بل سره تړلي دي.

دتکل او ارادې دوه نور ملګري

تکل او اراده دوه نور ملګري هم لري!

۱:— یو شعو ر بې له عقله — که چیرې اراده او تکل بې له عقل نه د شعور سره ملګري شو، نو دا اراده او تکل دحیوانی هوایی روح کار دی

۲:— او که تکل او ارا ده دعقل سره ملګر ي شو ه، نو دا تکل او اراده دالهی روح کار دې چه کړ او و نه زغمې او صبر وربا ندې کوی، خو صبر کول په بېل بېل ځای کښې بېل بېل نوم لري—

۱:— دنفسانی خواهشا تو په مقابل کښې ور ته عفت وایې لکه چه دیو سړ ی نفسانی خواهشات، زنا ـ لواطت ـ قمار ـ شراب او داسې نور نور بد کارونه کول غواړي او دا سې سړی دنفس د اخو اهشا ت وزغمی او دنفسانی خواهشاتو دقوت او زور په مقابل کښې صبر وکړی او ځان ورنه وساتی، نو د لته د صبر نوم عفت او پاکوالی دی:

۲:ـ او که یو بنیادم د کړاوونو او ز حمتو نو پـه مقابل حوصله وکړی او زحمتو نه کړاوونه وزغمی او جزع فزع شور او غال مغال ونه کړی، نو دې ته صبروایی دا کړاوونه او زحمتونه، د کوم بنیادم له خواوی او که دقدرت له خواوی دصبر ضد، جز ع، فزع او نور دی.

۳:ـ دولتمندی او بډایی زغمل او وربا ندی نه په هوا کیدل د نفس ضبط د ی شکستـه نفسی ده ـ ضد یې تکبر او لوبی ده

۴:ـ دجنګ په ډ ګر کښې هیڅ نه و یر بدل او دجنګ په ډ ګر کښې هرې سختۍ ته په لوړ همت ځان نیول او په هر راز سختۍ صبر کولو ته زړورتیا او شجاعت وایی او ضد یې ډار او بزدلې ده

۵:ـ او په غضب او قهر باندی صبر کول قهر او غضب زغمل ته حلم او نرمی وایی ضد یې غصه ده

۶:ـ دچا پرده او راز پټولو ته دراز ساتل او پټول وایی

۷:ـ دفضول پسندۍ له عیش نه ځان ساتل او دهغه په نه کولو صبر کولو ته زهد او پرهېز ګاری وایی ضد یې حرص دی.

۸:ـ په لږ او په معمولی څیز او کم خونده او کم مزه شی صبر کولو ته قناعت وایی ضد یې طمع ده نو دا فضایل ټول د عوره کول او دا ښه کارونه کول دالهی روح کار دی

او ددې ښو ښو کارونو ضد کول او ضد په کارونو یې مداومت کول دحیوانی روح کار دی یو مسلمان ته ددې ښو ښو کارونو کول اددین په دې لو یو لویو کارونو صبر او تکل کول د کامل ایمان او پوره مسلمانۍ نښه ده

غو ښتي

لونګین

يکا ساقي نه مې ډک جام غوښتی — په آرزو کانو مې سلام غوښتی
اوف مې اسمان ته الوول ختلی — د غمازانو مې انجام غوښتی
خیر دی که وسوسه غرمود شوندو — ما د یوې بوسې انعام غوښتی
تاو ده د مینې تلوسې را وړی — څکه پتنګ ژوندون نا کام غوښتی
راشه آرزو چه زما ماته نه کړې — د ستا د مینې مې قیام غوښتی
که د لیندو نه دې شي غشي خطا — زړه مې ددې نښې امام غوښتی
په یوه ګل به پسر لی جوړ نشي — ګډ مې ګلشن سره مرام غوښتی
دا مینتوب مې لېونتوب مه ګڼې — ما پکښې ګله ننګ و نام غوښتی

کړی «لونګین» سور په سوالې د زلفو
چه ئې د قوم احترام غوښتی

وړوسلګو سره خندا راځي

ښاغلی عبدالمالك «جوهر صدیقي»

شعور د مینې کړم اخته په مرض — ننګ مې د ږو هې له دوا راځي
چه خاطرې مې دی دسوز او ګوداز — ما ته و یلو کې ژړا راځي
د ما یوسې نه مې همدا هیله شي — چپا و دمرګ ګله په ما راځي
ستر ګې مې ږې دی د نیا ده تور تم — یم منتظر ګله سبا راځي
دا لېونتوب که د لیلی ادا ده — په تصور کښې مې صحرا راځي
لبریز د مینې پیمانې کړه یو ځل — نښه به هله د صهبا راځي
ما د نیستۍ ګله ګیلې کړیدی ؟ — نو په هستۍ مې څه پروا راځي
چه سامې خبرې داشنا په غېږ کښې — وړو سلګو سره د خندا راځي

چه لا په خوا ولې په دار نشومه
د دار په سر راته ژړا راځي

چاربیته

ښاغلی ملنګ جان:

زه چه نا زولی وم نو بل څوك نا زولی ؤ ؟

نن مې اننګی د بل ښپېږو تـه نیو لـی دی.

❀ ❀ ❀

زه هغه پښتون یم چه هر چا مې احترام کـاوه

ولې نن اغیـار راته پـه بدو ستر ګو ګور ی.

دېود کوه قاف مې د ګوزاره ځنې سام کـاوه

ولې نن اغیـار راته په بدو ستر ګو ګور ی.

څو ګ وو چه زما دوطن لورته بې اقدام کـاوه

ولې نن اغیـار را ته په بدو ستر ګو ګور ی.

هر غلیم مې شل ځله میدان کښې ځغلولی ؤ

زه چه نـازولی وم نو بل څو ك نـازولی ؤ ؟

اور دځانځانی دی چه په کور مې لګېدلی دی

نن مې اننګی د بـل ښپېږ و تـه نیو لی دی

❀ ❀ ❀

زه هغه شهباز یم چه مې هرطرف ته ښکار کـاوه

ولې لـکه زر که نن د بل دپنجو ښکـا ر شوم.

تیر مې ؤ په لاس کې په ظالم به مې ګوزار کـاوه

ولې لـکه زر که نن د بل دپنجو ښکـار شوم.

واك اختیار مې خپل ؤ په خپل خوښه به مې کار کاوه

ولې لـکه زر که نن د بل د پنجو ښکـار شوم.

ښه صحیح سبق مې ټول ګاوند ته اورولی ؤ
زه چه ناز ولی وم نو بل څوك نازولی ؤ؟

اوس مې د تعلیم دپاره زوی بلخوا لېږلی دی
نن مې اننګې د بل ښېږو ته نیو لی دی

❀ ❀ ❀

زه هغه با داریم چه همېش مې باداری کړې
ولې مې نن خلك د غلام په ستر ګه ګوری؟

څوك مې په سر نه ؤ ما پخپله سرداری کړې
ولې مې نن خلك دغلام په ستر ګه ګوری؟
د پردی نا کامشوی چه ئې ما پسې خواری کړې
ولې مې نن خلك د غلام په ستر ګه ګوری؟

بعضو لا د وېړ ې نه پخپله ځان سپځلی ؤ
زه چه نازولی وم نو بلڅوك نازولی ؤ ؟

دور د هغو تېر شو اوس ئې بل رالمسولی دی
نن مې اننګی د بل ښېږو ته نیو لی دی

❀ ❀ ❀

خدای دپاره ورو نورا ځیء ګوندیا نې پرېږدیء

قام کې چه نفاق وی په هېڅ وخت نه کامیا بېږیء
تېرې بدۍ هېرې کړیء اساس دمینې کېږدیء

قام کې چه نفاق وی په هېڅ وخت نه کامیا بېږیء
ټول زړونه یو زړه کیء دهېچا نه مه و رېږیء

قام کې چ نفاق وی په هېڅ وخت نه کامیا بېږیء
کوم وخت چه یولاس ویء ټول ګاوندمو لړزولی ؤ
زه چه نازولی وم نو بل څوک نازولی ؤ ؟

زه د ملنګ جان د ځانځانۍ اوږداغولی دی
نن مې اننګی د بل ښېږو ته نیو لی دی

ژوندی احساسات

ښاغلی عزیزالرحمن «ممنون»

زمونږ له زړونو نه تشویش او اضطراب کړه لرې
د یأس اغزی د خواهشو نو له ګلاب کړه لرې

زمونږ د هیلو آرزو ګانو داو یجاړه بېړۍ
د هلاکت او فلاکت له لوی ګرداب کړه لرې

د حوا دثو ګرد لې او داو هامو لړې
د حقیقت د لمر له مخې د اسحاب کړه لرې

چه د ژوندون صحنې په مونږه تنګوی خاونده
پخپل کرم دا عوامل هغه اسباب کړه لرې

خدایږو دېر عمر شو چه غم سره یولاس او ګرېوان
د آرزو غوټۍ کړه وازه نور عذاب کړه لرې

د ژوند خوندونه وی وحدت او یورنګۍ کې پراته
د بد بختۍ او دورنګۍ ربه حجاب کړه لرې

د ګمراهۍ کندې ته لوېږو د ظلماتو شپه ده
دا تاریکن د حقیقت په روڼ شهاب کړه لرې

مونږه به کلکه اراده، د حق رښا لټوو
دا مو لیلی ده په لیلی پسې صحرا لټوو

لکه خلیل به ځان ګوزار کړو په انګار د مینې
لکه منصور به ځان نثار کړو په لوړ دار د مینې

دا کوی نشو چه د حق اظهار نه خړ له وترو
لکه بلبل به په ناروېو په ګلزار د مینې

د غلطیو او تکیو تورو شپو کې یو بند
خدایه ژر راولې پر مونږ بیا تدې سهار د مینې

مجله کابل (۸-۵ چ) (د) لطیفی ... ۱۳۳۴

خزان دغدر کښې ملي ارواح خپه و نیمه
خاونده تل لرې دې خاوره کښې بهار د مینې

که په ظاهره کښې دی مړ، دی په معنی کښې ژوندی
هر هغه چا چه ځان قربان کړلو په لیار د مینې

له مړینې وروسته به ئې ځلوته سلام کوی خلك
چا چه په ژوند کې وساته پت او وقار د مینې

د نوم گلشن به ئې مصون له هر خزان شی پاته
د فخر نوم به ئې عالم کښې جاویدان شی پاته

زه په جهان کښې تحول نوی رنگو نه غواړم
د زمانې د سینما نوی فلمو نه غواړم

خمود جمود کښې او سپدل راته مشکل ښکاریږی
د ژوند په لیار کښې د نهضت سره گامو نه غواړم

په هر یو عصر کښې په یو فکر ژوندون دی محال
د زمانې په توافق معقول فکر و نه غواړم

چه د نهضت او ترقۍ لیارې ته سم کاندی هو نبز
د نوی ژوند کتاب نه داشانې درسو نه غواړم

په قوی عزم و متانت د اصلاحاتو لړ کښې
ورك له صحنې نه مزخرفه رواجو نه غواړم

د پښتو پیری به هرگز په غاړه یو نسمه
بو هه ا مسا د ترقۍ خواته مزلو نه غواړم

چه نوی فکر، نوی خیال کړی په دماغ کې پیدا
داسې کتاب داسې لیډر داسې علمو نه غواړم

افکار او نظریات

مال او واده

څیني پوهان دیو بل څخه
داپوښتنه کوي چه:
دیو ځوان دپاره دابنه ده چه
یوه شته منه ښځه په نکاح
کړي او که یوه غریبه ښځه ؟
څیني خلك داهیله لري چه
په یوه شته منه اومړه کورنۍ
کښې واده وکړي او په دې
وسیله خپل ځان دخپلې کډې
او کور داحتیاجاتو دمسئوالیته
خلاص او بیغمه کړي .
بلکه دخپل ځان دپاره هم دهغې
دمال اوشتو څخه استفاده وکړي
څیني ځلمي داهیله لري چه په
یوې غریبې کورنۍ کښې
واده وکړي او دغه ځلمي
داکار ددې دپاره ښه گڼي
چه غریبې ښځې دخپل ناریښه
اودهغه دزیار او گټې په قدر
او اهمیت ښې پوهیږي اوخپل
خاوندته دکور دیومسئول مشر
اورئیس په سترگه گوري.

په دغو دواړو پورته مفکورو
کښې څیني خلك دلږ پر ترمیم نه
وروسته دا نظریه لري، چه باید
شته منه ښځه اومړو پاك لمنې
او امانت کره اودجگو اخلاقو
او شرافت څښتنه وي اوغریبه
ښځه باید دصبر او قناعت مېرمن
او د کور په چارو پوهه وي.
اوځیني په پیسو مین ځوانان
دا نظریه لري، چه مېرمن دې
شته منه وي، نو نوروخبرو ته
ضرورت نشته دی . اوځیني
ځوانان چه په خپل کور کښې
دحاکمیت او آمریت چلول
غواړي، نوهغوی دا نظریه لري
چه غریبه ښځه ښه ده که نور
صفات لري او که ئې نه لري،
پروا نه کوي .

دپوهانو په نظر کښې ددې
مفکورو داختلاف بنسټ دادی چه:
د ځینو خلکو په عقیده
ژوند یوازې مال او د ځینو
په عقیده ژوند یوازې سلطه
او آمریت وی اوځیني په دې
عقیده دی، چه ژوند د کمال
نوم دی . او کمال ددوی په
فکر عبارت د کمال او جمال
دقوت او نفوذ څخه دی .
لیکن دپوهانو په نظر کښې هرشی
ځان ته مخصوصه اندازه اوجلا
چوکاټ لري، دوی وائي چه
که مال یو ضروري شی دی
نوجمال هم جلا شان او مقام
او اخلاق هم جلا قدر او اهمیت
لري، او په دې ځای کښې باید
داحقیقت هم څرگند کړی شی
چه، کله کله په داسې ځایونو
کښې دوخت او زمانې
تقاضا او ایجابات له نوروشیانو
څخه ډیر اهمیت لري .
دمثال په ډول : نه داهیله
لرې چه یوه ښکلې غریبه
ښځه ددې دپاره په نکاح واخلې
چه دهغې دښکلي مخ او جمال
په ننداره خپل زړه خوشحاله
کړې ، لیکن ستا دگران تره
لور اویاستا په کورنۍ کښې
یوه بله دا ډول ښکلې او شته منه

پېغله هم ناسته ده چه بې له تابل هیڅوك غم خور نه لري او نه ئې بې له تابل چا ته سترګې اوړي، هغه د پر مال او داهیله لري چه تا سره خپل ژوند شریك او ستا خدمت وکړي، نو په دې صورت کښې به ستا دپاره دا خبره ښه وي چه دغه د خپلې کورنۍ ستا په غم او ښادۍ کښې شریکه پېغله په نکاح واخلې او په دې وسیله د خپلې کورنۍ مال او شرف خوندي کړې.

آیا دا خبره امکان نه لري، چه دغه پېغله چه تا خوښه کړې ده لږه موده وروسته ئې تا سره طبیعت ونه لګېږي او ستا د دې کار په اثر له یوې خوا ستا په زړه او احساساتو اور پورې کړي او له بلې خوا ستا راتلونکي ژوند او ستاد کورنۍ په تېر نوم او راتلونکي برم او افتخار خاوري واړه ولې شي؟ باید پوه ځلمي دې حقیقت ته ځیر وي چه په دې ډول پېښو کښې د پر خلك د راتلونکي احتمالي نیکمرغیو په تمه د خپلو کورنیو په تېر وافتخاراتو او راتلونکو نېکمرغیو اوړو نه پورې کوي.

که مونږ دا فرض کړو چه یو ځلمی د دوو پېغلو خوښ دی او په دغو دوو پېغلو کښې یوه پېغله د پر زیات مال او جمال مېرمن ده او دغه بله په مال او جمال کښې له دغې بلې ښځه کمه ده، لیکن دغه لومړۍ پېغله داهیله لري چه د خپل دغه مال او جمال په قوت تا او ستا ټول احساسات خپل مرېو نه او غلامان او د ځان تابع کړي او دغه دوهمه دا فکر لري چه تا سره خپل ژوند شریك کړي نو په دې صورت کښې له دغې لومړۍ پېغلې ښځه دا دوهمه پېغله که څه هم په مال او جمال کښې کمه ده ډېره ښه ده.

د ډېرو تجربو په لړ کښې دا حقیقت څرګند شوی دی چه نه د پر مال او شته د ازدواج او ګډ ژوند دپاره د نېکمرغۍ بنسټ کېدای شي او نه د ډېرې غریبې پېغلې په نکاح اخیستل ښه کار دی ځکه د پر دا ډول کارونه پېښ شوي دي چه د پر شته او مال د خلکو او کورنیو د بربادۍ او خرابۍ سبب شوي دي او د پر بې وزلي او غریب خلك د نکاح او واده نه وروسته د پروشتو او نېکمرغه هوسا ژوند خاوندان شوي دي او یا د مایوسۍ او بې وزلۍ د لاسه ورك او فنا شوي دي هر کله چه دا ټول شیان د نېکمرغۍ بنسټ نه شي کېدلی نو پوهان د خپلو پاټنو په لړ کښې د دې حقیقت ته رسېدلي دي چه د نېکمرغۍ او هوسا ژوند حقیقي بنسټ د ښځې او خاوند په منځ کښې په یو بل اعتماد لرل او د دوی موافقت دی او بس باید په ازدواجي ژوند کښې مال اساس ونه ګڼل شي او دا ځکه چه د پرې دا ډول شته منې پېغلې لیدل شوې دي چه هغوی له دې وېرې د غریب سړي سره نکاح نکوي چه دی به ګوندې زما مال وخوري، نو د بدای سړي سره ئې نکاح کړې ده لیکن دغه بدای په لږه موده کښې د دې او خپل ټول مال برباد کړی دی او د پروشته منو پېغلو غریب سړي په نکاح اخیستي دي او دغه غریب سړي د دې

مال ساتلي او دومره ئې ډېر کړي دي، چه دد واړو دهوسا ژوند سبب شوی دی، مطلب دا چه ډېر غريب خلك دخپل ښه انتظام پهذريعه دهوسا او ښه ژوند خاوندان شوي دي.

که انسان دټولنو ورځني ژوند ته ځير شي، نو دټولنو په ازدواجي ژوند کښې به ددغو متباينو نظرياتو پهزر ګونو مثالو نه وګوري او په دغو پلټنو کښې به دې حقيقت ته ورسېږي چه کوم ودونه چه دمال او يا جمال په اساس شوي دي دهغو مستقبل ډېر ژر داسې خراب او تريخ شوی دی چه دغهخوازه او په يو بل مين انسانان د يو بل دښمنان او ديو بل دوينو ليوال شو او دوی او د دوی ماشومان دډېر بد او تريخ ژوند سره مخامخ شوي دي.

دعلم النفس پوهان دخپلو پلټنو پهرڼا کښې دې نتيجې ته رسېدلي دي چه دټولنو افرادځان ته جلاخويونه او طبيعتونه لري، ليکن کوم خلك چه دښته منو ښځو سره دواده هيله لري د وی حقيقي مېړونه، نه بلل کېږي او داځکه چه حقيقي مېړونه دښځو لاس ته کښېښناستل د ډېر لوی عار کښي او له دې ډول کارونو ښځه کرکه او نفرت کوي.

خپل ځان ؤ پېژنی!

هو کې! څوک چهخپل ځان و پېژني او خپل مسئوليت ته ښه ځېرشي او په دې وپوهېږي چهزه په جامعه کښې کومه وظيفهلرم، د او يانو او وړو حقوق کوم دي دهر يوه مقام او حيثيت ته په در نهسترګه وګوري يقين دی چه هيڅ کله به تا وړه خويونه دانسانيت نه لرې حرکات ترېنهصادر نشي، په جامعه کښې به دښه نوم او ښهشهرت خاوندشي، دخلقو په زړو کښې به محبوب وي.

که څوک دخپل ځان عزت النفس، حيثيت، شرافت، ناموس غواړي، که څوک خپل وجدان اوضمير ترنظر لاندې و نيسي، هيڅ کله به نورو ته په بده سترګه و نه ګوري بلکه خپل احترام به د نورو په احترام او تعظيم کښې لټوي داسې نه چه خپل عزت دنورو پهذلت کښې غواړي، که چاته خپل عزت خپله آبرو و خپل حيثيت محترم وي هرومرو به دنورو حيثيت ته په درنه سترګه ګوري.

مشهور متل دی، چه که څوک د خپل ځان احترام او عزت غواړي، دنورو عزت او احترام دې وکړي.

هو! کهڅوک غنم وکري نوغنم به ورېبي دور بشونه د غنمو اميد غلط دی، همدارنګه دبد و نه دښو آرزو ناداني ده آينه کښې هرڅا ته خپله څېره ښکاري. د دنيا اعمال نا سته ولاړه د آينې او هنداري مثال لري، هرڅوک د خپلو اعمالو ننداره کوي دچاسره که چابدو کړه البته عکس العمل به ئې هم بدوينې په دې اساس د هرچا حيثيت

او مقام د نورو خلقو د پېش امد نه دده سره تخمين کېدلی شی هغه اشخاص چه نن دخلقو په منځ کښې ښه حيثيت لری او دلوړ مقام څښتنان دی، هغه ټول هغه کسان دی، چه نوروته په درنه سترگه گوری، او په دې پوهېږی چه

آدم ذات دی ديو ې و نې ښا خونه چير ته، ته‌ښاخ دزعفران يې نورشړ شم

له بل پلوه څوک چه ځان نه پېژنی هغه خدای هم نه دی پېژندلی. دځان پېژندنه دخدای پېژندنه ده.

خوشال وائی راشه وغړوه سترگې دجهان ننداره گوره
ددې خپل وجود په باغ کښې په هرشان ننداره گوره
چه هر گل و ته نظر کړې دباغوان ننداره گوره

هو! گلونو دطراوت اوسليقې نه اودباغ دمنظرې نه دباغوان لياقت پوره معلومېدای شی که څوک خپل مصنوعی خلقت ته ځيرشی، دقدرت صنعت د انسانی شرافت اومقام داحسن تقويم پرزې په غورسره تردقت لاندې ونيسی، په يقينی صورت سره به دصانع قدرت اودلوی اقتدا څښتن ورته معلوم شی، اوپه دې به وپوهېږی، چه دامقتدر ذات په هرشی باندې قدرت او اقتدار لری اوپه يقينی ډول به ورته دا خبره رښتيا ښکاره‌شی «چه من عرف نفسه فقد عرف ربه»

د بل مال، اولاد، حق، او ناموس به ورته داسې محترم ښکاری، لکه خپل حق او ناموس، دنورو فردی او اجتماعی حقوقو ته به په احترام گوری، په صاف ضمير په‌قوی زړه، اوپه کامله‌ايمانداری به خپله شخصی او اجتماعی وظيفه‌انجاموی، بی‌ځايه غرور او تکبر اوخودخواهی ته‌به دنفرت په‌سترگه گوری اوهمېشه به متواضع وی.

په پای کښې دخوشحال بابا په‌دې و ښاخپلې مقالې ته خاتمه ورکوم

خاص بنده دخدای هغه گڼه خوشحاله چه‌دځان په‌معرفت ئې سر فراز کا!

کره کتنه — ښاغلی محمد دین ژواک

د انیس د ۲٤ کال (٦٤) گڼه

مونږ دا منو چه انیس تر ټولو اخبارونو د مخه یو نوی تحول په صحافت کښې پیدا کړ، په مضامینو کښې ئې هم نوی رنگ منځ ته راغی، او هر څوك ئې د مطالعې شوق من شول، حقایق باید پټ نه شی او مونږ هم هیڅ وخت دا نه غواړو چه دا کار وکړو، دژوند هره خوا باید ولیدله شی او ښو ته ئې ښه او بدو ته ئې بد وویل شی

په همدې اساس وایم چه د انیس د پښتو عضوه د پښتو سره لږه بې پروائی هم کوی هغه دا چه دذکر شوې شمارې په دوهم مخ کښې د پښتو یو شعر نشر شوی دی،

مونږ ددې دپاره چه دا بې پروائی وروښیو اول پخپله هغه شعر دلته عیناً رانقلوو او بیائې خو را کمزورې او غلطې برخې هم ښیو.

دانیس د ۳٤ کال د ٦٤ گڼې

شعر

پښتانه که ترملا و تړله توره — دغلیم مور به په زوی باندې کړی بوره

د زمری حمله یوازې په زوی نه کا — پښتنه مور دا صفت غواړی ادلوره

پښتو نخوا کښې باداری چا نه دی کړی — دا خبره ټول جهان کې دی مشهوره

په نامه د پښتو نخوا چه څوك یا د بیزی — پښتنی صفت له ده نه غواړی توره

په پښتون چه نن دغه وضعیت راغلی — د جهان او زما نې له دوه دستوره

مونږ ثبات استقامت کوو دالار کښې — صلح سلم مود جهان چه دی منظوره

حق ملگری دی د حق ته باور وکړه — حقیقت هیڅکله نکیږی مستوره

خپل وطن خدمت کې ځان چه څوك شهید کړی — پر مزار ئې گلان زدی د جنت حوره

صبر تریخ ولی ثمر ئې څه خوږه وی — په وروورو به ئې خلاص کړو له مغروره

خدمت گار د قام خدمت ته اماده یم — زه «ستومان» کامیابی غواړم له صبوره

دا ۋ اصل شعرچه په نثر شو ی صورت نقل کړ ه شو او س به نو هغه غټې غټې غلطۍ چه په همدې شعر کښې شته و کړا نو لوستونکواو دهمدې اخبار د پښتو مسئول ته وښيو .

(۱) په همدې شعر کښې دلمړی بیت د « پښتانه » کلمه باید « پښتنو » لیکل شوي وای ځکه دلته د« پښتنو » کلمه د« ترل» دفعل دمتعدی ماضی فاعل باله کیږی . اودغسې جمعه په دغه حالت کښې په (واو) راځی لکه .« پښتنو توره و کړه » .

(۲) په دوهم بیت کښې که تر معنی هم تېر شو نو ددوهم بیت په وروستۍ برخه کښې بیا لفظی غلطی داده چه وایی:

« پښتنه مور داصفت غواړی له لوره » دلته د « له لوره » تر کیب هم د « له » د عمل په اثر غلط د ی او باید له « لورې »وویل شي، ځکه د « له » توری عامل باله کیږی او لکه د « لارې » په شکل باید وویل او وایکل شي ،

(۳) ددریم بیت سر داډول وویل‌شوی‌دی .

« پښتون خوا کښې با داری چا نه دی کړې » چه دلته د « باداری چا نه‌دی کړې» بیت غلط‌دی .

« او باید داډول وویل او ولیکل شي : « باداری چا نه ده کړې »

ځکه د « باداری » کلمه مونثه ده اومؤ نث دپاره (ده) راځی نه(دی)

په همدې ډول د همدې‌بیت په‌وروستۍ برخه کښې‌هم‌بوه‌غټه غلطی‌شته، لکه‌چه‌وائی!

» دا خبره ټو ل جهان کښې دی مشهوره » چه اصل او صحیح شکل ئې داډول‌دی « داخبره ټول جهان کښې ده مشهوره»

(٤) په شپږم بیت کښې بیا علاوه پر یوعالم بې ربطۍ چه وایی :

« مونږ ثبات استقامت کوو دالار کښې» دلته بیا لفظی‌غلطی داده چه دباید د« دا» کلمه چه اشا روی صفت باله کیږی، په « دې» بدل کړ ی شي ځکه د« دا » صفت په‌دې ډدل‌مواقعو کښې په« دې» بدلیږی لکه‌په‌دې مجله کښې « په دې خو نه کښې کښېنم» یعنی که‌اشاروی صفت چه‌دمشارالیه سره پیوست راشي نو دد ې » په شکل راځی لکه په‌دې جمله کښې :

« په‌دې لار کښې ځم» یا« په‌دې بازار کښې سودا کو م » چه اشاروی حا لت ئې داشا روی‌حالت‌سره په‌اصلی شکل‌سره راځی

۵: داوم‌بیت په‌اخره برخه کښې چه‌وائی :   (پاته‌په‌۲۵مخ کې)



ښاغلی محمد یوسف «صافی»

د گلاب گل

گل دقدرت د کار خانې یو ښکلی مظهر دی او د کائناتو په منځ یو ښایسته موجود دی دده په رنگ او بوی کښې عجیب کیفونه شته ' د گل په لیدو ستر گې خوږیږي او په بو یو لو ئې دماغ تازه کیږی او په زړه کښې مستی او حر کت پیدا کوی.

دشاعر دپا ره د عالی تخیل تا بلو ده ' او دهر شاعر په دفتر کښې مخصو ص مقام لری... دآدب بازار یې تود کړی اودهر لیدونکی په نظر کښې ځانله قیمت لر ی...

گلونه درنگ او بوی په لحاظ د براو دذوق او انتخاب په خیال توپیر لری ......

زما زړه د(گلاب گل) وړی دی، او دده رنگ اوبوی زه پوره تسخیر کړی یم......

هغه وخت چه دژمی ساړه مخ په کمېدو شوه او دپسر لی مرغیو دپسرلی زېری راووړ د گلاب یو بوټی مې په یو ښایسته گلدان کښې د گل کو لو په مینه و کاره....

دورځې به مې لهلمر اودشپې به مې له سړ و څخه سا ته مادده دز ر لو ئېدو سره د پره مینه لر له . . . هیڅ کله بې او بو شو ی نه دی . . . هر سبا او بیگا به مې لهلون کاوه او ضر ری بو ټی به مې دده په خوا کښې نه پر ښو دل...

دهورو' ورووده کولې' پاڼې اوڅانگې ئې پیدا کړې'څېلی ئې د گلدان هر گوټ ته ورسېدې مگر زما تلو سه د پر ه وه او غو ښته مې چه زر گل شی .....

د پسر لی معتدلې هوا زما دارزو سره ښه کومک کا وه او دده په نشو و نما کښې ئې هره ورځ بدلون راووست' تر څو چه په سر کښې ئې یوه غو ټۍ رو نیوه....

یوسهار دچینچنو په آوازوختی
دخوبه‌راو ینې شوم، د ګـل دبو ټی
خوا تـه راغلم ګو رم چه دده
غو ټۍ خوا ـه خندا ته جو ړه
کړ یده، نوخوشاله‌شوم‌اوزړمې
په ګـنډ ول کښې اوبه راوړې
زه‌پوه‌نشوم...ماو نه‌لید، ناڅاپه
په‌داسې‌وخت کښې چه‌ماپه‌ډېره
مینه د ګـل دبو ټی ببخ ته اوبه
ا چـولې د پرا نـګ دنو کو
په‌شان پوه‌شی‌ر ما لاسو نه بې‌رحمه
ځیرې کړل او ا‌ـکه دخنجر
په‌شان ئې‌غوخ غوخ کړم.....

او داو بو ګـنـډول‌مې‌دلاسه‌و لوېد
دغه‌وخت‌زه‌پوه‌شوم، چه د ګـل
بو ټی‌دغـو ټۍ پـه خوا کښې
اغزی کړېدی .... کـه‌څـه هم
داغـزو پرهارونه زماپـه لاس
ناسورشول، اوډېرې زاړ ومبی
مې‌پرې کښېښودې، چه‌داغو نه‌ئې
لا تراو سه هم شته ، مګرزمـا
په‌مینه کښې ئې‌څه درز وانه
چولی شواو دا خبره‌چه (دهر
ګـل سر ہ‌اغزی مل و ی)
راپـه‌یادشوه.....
زماد ګلاب بو ټی اوس ښه

غوړېدلی اوځنې ګـلو نه ئې
نیولی دی ..... زه دده سره
هماغومره‌مینه‌لرم‌اودی‌دسرې
اوتودې هواڅخه‌هماغسې‌ساتم
ګډې اووزې دده‌په خوا کښې
نه‌پرېږدم، چه‌دده‌ته‌زیان‌ورسوی
او یاد ده غو ټۍ ځوانی مر ګې
کړی.....مګر داوبوور کو لو
په‌وخت کښې دده دتېر و تېرو
اغزو څخه چه هر یوئې دغشی
غوندې تېره‌دی، ځان ساتم....
دی زما د ګـنـډ والې په ځبر
کور کښې له‌لرې نه‌ښه ښکاری...

(د۲۳مخ پا تـه‌برخه)

«حقیقت هیڅ کله نه کېږی مستوره» دلته‌بیا داغلطی‌شته، باید داجمله په‌دې صورت راغلې وای :

«حقیقت هیڅ کله نه‌مستوره کېږی» یعنی‌د کېدل‌دمصدرڅخه چه یو تر کیبی‌مصد ردی هر وخت دا د ول اشتقاق کېږی، چه‌اول‌جز یاد فعل ماده لمړی، او ورو سته دو هم جزراوړل کېږی لـکه په دې جمله کښې :

« سړی نه پخلا کېږی» چه دلته اصل‌مصدر پخلا کېدل‌دی او« پخلا » لمړی برخه یادفعل اصلی‌ماده بلل کېږی اود« کېږی» کلمه‌چه‌د « کېدل » له‌مصدر څخه د حـا ل صیغه ده، دوهم‌جز بلل کېږی .

٦: په(۹)بیت کښې بیاپه‌لمړی برخه کښې چه وائی :

«صبر تریخ ولې ثمر ئې څه‌خوږه وی» داغلطی شته، چه « ثمر » ئې مؤ نث بللی ، اود«خوږه»صفت ئې ورسره‌راوړی‌دی، حال‌دادی‌چه‌د ثمر کلمه‌په‌پښتو کښې دمذ کر کلیمه‌ده په‌هر تقدیر د« ثمرسره‌باید د«خوږ» صفت‌راشی ، نه‌د«خوږه» صفت، راغلوو دې خبری ته چه که‌داالفاظ اصلاح‌هم‌شی داشعر آیا دمعنی‌په لحاظ‌دې قیمت لری چه‌نشر شی؟ په‌دې خصوص کښې هم‌خبرې شته ، که‌دپښتوسره‌دبې‌پروائی‌خبره‌وی، نو باید‌علاوه‌پر نشر حق‌الز حمه‌هم‌ور کړه‌شی، او که‌دا نظریه نه‌وی، نو داشعر هیڅ یوارزښ نه‌لری‌چه‌دا نیس ر نـګی‌ښه اخبار پرې‌بد نام‌شی اودپښتوټولنې دادبیاتو څانـګه ودې‌ته مجبوره کړ له شی ، چه په داسې‌غلطو شعر ونو څه‌ولیـکی

د سرطان د میاشتې له اومې نه تر پنځلسم پورې

پنځلس ورځنی خبرونه

دهېواد خبرونه :

د چنګانې د میاشتې په (۷) نېټه پخوا له غرمې نه په (۱۱) بجو د ملي شورې نهمه دوره د معظم ټولواك په وینا پرانیستله شوه، په داسې حال کښې چه والاحضرت مارشال شاه ولي خان غازي، ښاغلی سردار محمد داود خان صدر اعظم، د کابینې غړي، د دوارو مجلسو غړي، د جمعیت العلما غړي، ملکي لوی مامورین او عسکري ستر منصبداران او د مملکت ځینې مخور کسان د سلامخانې ماڼۍ ته ورغلي ؤ، معظم ټولواك وروسته له هغه چه د ملي شورې د نوي رئیس ښاغلي محمد نوروز معروضه واورېده، چه د کابل په راډیو کې براډکاست شوه.

د ملي شورې د تبلیغاتو او نشراتو له څانګې خبرور کوي چه، ښاغلی محمد نوروز د کلنګار وکیل د رایو په اکثریت د نهمې دورې د رئیس او ښاغلی مولوي صالح محمد د لومړي معین او ښاغلی فقیر محمد «شفا» د دوهم معین په حیث وټاکل شو، او هم داسې ښاغلی محمد رحیم «شیدا» د ملي شورې لومړی منشي او ښاغلی محمد کبیر «عبرت» دوهم منشي ټاکلي شوي دي.

د جون په ۲٦ چه د سرطان (۳) نېټه کېږي، د متحده مللو د مؤسسې اسم تلین ؤ، زمونږ په مملکت کښې د دغې ورځې د بر تودهر کلي وشو. او کابل راډیو د دغې ورځې په نسبت خپل مخصوص پروګرام د ښاغلي سردار محمد داود صدر اعظم په وینا افتتاح کړ، او د مملکت مطبوعاتو خپلې پاڼې د دغې ورځې د هر کلي دپاره وقف کړې وې.

د سرطان په (۱۰) د کوچنیانو د جشن په نسبت په ټول مملکت کښې عمومي تعطیل ؤ او هر چېرې د کوچنیانو د صحي روزنې د ښادونې او په جامعه کښې د هغو د راتلونکي مقام او اهمیت په باره کښې غونډې شوې او ترتیبات نیول شوي وو؛ په مرکز کښې د دې جشن مراسم د ښاغلي داکتر محمد رسول «ترکي» د روزنتون د رئیس په وینا چه په کابل راډیو کښې وشوه شروع شول.

او بیا د ماز یګر له څلورو نه تر شپږ و بجو پورې په غازي سټدیوم کښې د روزنتون او مرستون د کوچنیانو له خوا په زړه پورې نمایشات وښودل شو.

په پښتونستان کښې :

د جنوبي محکوم پښتونستان نه خبرور کوي چه د بلوڅو او پښتنو یو شمېر مشرانو په ګډه د پاکستان د مواصلاتو وزیر داکتر خان ته یو ټیلګرام لېږلی او په هغه

کښې ئې غوښتي دي، چه څرنګه چه د دیموکراسۍ د قانونو په اساس د هر قوم او هرې علاقې نمایندګي باید د دغه قوم او علاقې د خپلو خلکو په واسطه وشي، نو څنګه مونږ نشو کولی چه لکه څنګه چه د حکومت په اشاره د قانوني صلاحیت لرلو نه پرته د شاهي جرګې او د کوټې د ښاروالۍ غړیو تاسو د وکیل په حیث په نوي قانون ساز مجلس کښې د دې ځای د خلکو د نماینده په شان معرفي کړي یاست، تاسو د خپل وکیل په حیث و پېژنو. نو ځکه مونږ له تاسو نه چه سیاسي او حزبي سابقه لرئ او د ملي او اجتماعي مقتضیاتو سره ښه بلد یاست؛ غواړو چه د اخلاقي شجاعت نه کار واخلئ او د دې ولایت د وکالت نه چه د هغه د اوسېدونکو خلکو د میل نه مخالف دی تېر شئ. او له دغې عهدې نه استعفی ورکړئ، چه د دې ځای د هغو خلکو د ولې نه چه پخوا د کاندیدانو په حیث معرفي شوي دي، یو کس انتخاب شي.
د (جنوبي محکوم پښتونستان د ډېرو مشرانو د لاس لیک ځای.)

شمالي پښتونستان: د شمالي پښتونستان د تیراه ځانګې د ملي محلي شورې د مرکز (باغ) نه خبر ورکوي چه:

د جناب عالیجاه مولینا نوردل خان د تیراه ځانګې د ملي محلي شورې د رئیس په بلنه دایر یدو، ملك دین خېلو، قمبر خېلو، کوکي خېلو، زخه خېلو، اکاخېلو سپاې، او داور کزیو، ستوري خېلو مشران او د خیبر ځنې مشران او وکیلان چه د پښتونستان بیرغونه ورسره وو، باغ ته وخوځېدل. د جمعې په ورځ د سرطان په (۸) نېټه ئې په باغ کښې یوه تاریخي او ډېره لویه جرګه جوړه کړه.

وروسته له هغه چه دغه لویه جرګه د قرآن کریم د څو آیاتو په لوستلو پرانیستله شوه، جناب فضیلت همراه حاجي نوردل خان یوه لویه او معقوله وینا وکړه او وروسته له هغه چه د نوموړي فاضل وینا د الله اکبر او ژوندی دې وي پښتونستان په نارو پای ته ورسېده؛ جناب ملا ښایسته ګل خان زخه خېل خپله؛ له جوشه ډکه وینا وکړه او وروسته د ده له وینا څخه ښاغلي ملك نادرخان زخه خېل، جناب سید کشمیر شاه صاحب زاده، ښاغلي عظیم ګل خان د ملك دین خېلو وکیل ښاغلي مولوي صاحب اکاخېل، ښاغلي جبارخان قمبرخېل ښاغلي چنار ګل خان او نورو پر له پسې د پښتونستان د آزادۍ او د پښتونستان د ټول ملت د اتحاد او یووالي په باب کښې له جوشه ډکې وینا وې وکړې او وروسته له دغو ویناو د رایو په مطلق اکثریت د پاکستان د استعماري سیاست په مقابل کښې او د پښتونستان د خیر او ښېګڼې د پاره څلور غوره تصویبونه وکړل. او جرګه د پښتونستان د آزادۍ په دعا پای ته ورسېده.

سیر او سیاحت

(٤)

دما ښام د راتلو سره ننداره ختمه شوه ؛ مونږ خپلو ډېرو ته راغلو ، يو تر بله په خوږه مرکه او خبرو بوخت وو چه «يوولس نيمې» بجې د ډيلي ټېشن ته ورسېدو «خان غازي» محمد ولي بابر او نور په ټېشن کښې زمونږ هر کلي ته ولاړ وو ، د ډيلي سره هوا رابانديې ولګېده ، او بيا مو ديخنۍ احساس وکړ ځکه چه د کلکتې هوا په دې ورځو کښې کافي ملايمه او نرمه وه - بيا په موټر کښې کښېناستو او «سنټرل کورټ» هوټل ته لاړو - په دې ځاى باندې د کلکتې سفر ختم شو .

د جنورۍ ١٢ :

د فريد آباد جلسه

دجنورۍ په ١٤ ، غرمه ١٢ بجې په کرندۍ موټر کښې له ښاغلي انورالحق ګران تاج محمد خان او خان غازي سره فريد آباد ته لاړو . فريد آباد د ډيلي د نمر خاته خوا په ١٨ ميله کښې يو ځاى دی چه د صوبه سرحد څخه تللي پناه ګير پکښې اوسېږي

د فريد آباد لوى واړه زمونږ مخې ته را وتلي وو ، د پښتنو دوه ول پېشان ډول پکښې وهل کېده ، په دې خلکو د پښتونستان د نمايندګانو راتګ بېخي داختر ورځ وه ، د هر يو تن په تندي کښې د خوشحالۍ کرښې لوستل کېدې ، د ګلونو امېلونه ئې زمونږ غاړو ته راواچول ، موټر ديوې زبردستي ګڼې په منځ کښې روان دی ، دفريد آباد په فضا کښې د مينې او شوق چيغې خېژي ، غوږونو ته ساعت په ساعت د پښتونستان زنده باد ، پاچاخان زنده باد ، فقيرايپي زنده باد نه جوشه ډکې خوندورې ناري رارسېږي ، مونږ په موټر کښې ، د دې ښکلي خوندناکې منظرې ننداره کوو ، دا خلک اکثر خدائي خدمتګار وو او سرې جامې ئې اغوستې وې ، په لاره کې دفقيرا يپي او فخر افغان په نامه دوه لوبې دروازې ښکاره شوې ، په دې دروازو د جلسې ځاى ته لاړو ، د جلسې ميدان خولې تر خولې له خلکو نه ډک دی ، ابز ساعت پس دجلسې کار روائي شروع شوه ، اول اول خموش سرحدى د هفته وار کانګرس اخبار مدير د پښتونستان او افغانستان د نمايندګانو په هر کلي کښې جلاجلا سپاسنامې و ويلې .

داسپاسنامې چه په ډېر ښکلي خط ليکلې شوې وې، په ښيښو کښې بند ښاغلی سيال ته ورکړ شوې، ور پسې نهال سنګهه خپل پښتو نظم ووايه، بيا «سو کهه رام» هم پښتو نظم واوراوه چه يو بيت ئې دادی:

په حرمت دحضرت محمد مصطفی — شادمان په جهان هرافغان کړې الله

تردې وروسته ميراجان سيال ودرېداو په درنده لهجه ئې په پښتو ژبه يوه خوږه وينا وکړه ده دفريد آباد له پناه ګيرو سره خوا خوږی او همدردي ښکاره کړه، بيائې دآزادو سرحدونو په شوراګانو اونورو کارونو هم رڼا واچوله او د پښتونستان دجوړولو په لار کښې ئې دسختې قربانۍ ضرورت څرګند کړ، له ده نه وروسته ارباب په اردو کښې دخپلو احساساتو ترجماني وکړه، په آخر کې له مانه هم دڅه ويلو غوښتنه وشوه، په دې وجه ما هم په اول ځل په دغسې عامه جلسه کښې دخبرو کولو جرأت وکړ، مالومېږي دفريد آباد داوسېدونکو ددې درونډ هر کلي ډېره شکريه وکړه، بيامې دافغانستان هغه کومکونه بيان کړل چه همېشه ئې دپښتونستان له خلکو سره کړي دي، دغه شان دهند دآزادۍ په لار کښې دافغانستان کومکونه هم بيان شول، په آخر کښې دې خبرې ته اشاره وشوه چه دپښتونستان جوړول په خپله دپښتنو کاردی افغانستان يواځې په اخلاقي توګه دخپلو ورونو دآزادۍ دآواز سره ملګرتيا او ددوی سره جايز کومك کوي، له دې کېبله پکار دي چه دهرځای پښتانه په دې تحريك کښې عملا برخه واخلي، جلسه دخموش سرحدی په آخري خبرو ختمه شوه اوبيا ناخبره دتمبوانو په منځ کښې يوې خيمې ته بوتللی شو، هلته دچای او مېوې بندوبس شوی ؤ، ښځې او ماشومان زمونږ ليدوته له خپلو تمبوانو څخه راووتل، دوی ټول په پښتو غږېدل چادوزيرو، چادختکواوچاديوسف زو په لهجه خبرې کولې، ودو هلکانو په غټ آواز په پوره زړورتيا ويل «ستړی مشۍ!»

مګر زمونږ زړونه ددوی په خوارۍ اوسخت ژوند پرودردېدل، مونږ بيا ددوی يو پيرو ليد، په زړه خپمه کښې دپښتنو په څېر د «چر ګی» خواته ناست ؤ، دوزيرو په لهجه ئې خبرې کولې، دفقيرصاحب ايپی د نامه اود هغه داستانې زمضانی په ليدو ډېر تازه شو، په ستړګو کښې ئې اوښکې وګرځېدې اودزړه په جوش ئې وويل: دپاکستان هم داسې داسې ؤ کړم او دهندوستان هم داسې داسې وکړم، زمونږ دپاره دوازه بندی، مونږ خوتباه شوو، برباد شوو، خدای دې زر پښتونستان جوړ کړي، چه ددې ځای له غمه خلاص شو،

دفرید آباد اوسېدونکو، پښتو ژبه د پښتنو لباس، عادتونه ناسته ولاړه هرڅه ساتلي دي او بدلولو ته ئې هم حاضر نه دي. د هند حکومت غواړي چه دوی په هند کښې ځای په ځای خپاره کړي، مګر دوی په هیڅ شان دې خبرې ته غاړه نه ږدي، دوی وائي مونږ ټول په یو ځای ژوندون کول غواړو، مونږ پښتانه یو ز مونږ ګډون د نورو هندوستانو سره مشکل او سخت دی، دغه د دوی د ورو کي او لوی نر او ښځې جذبه ده.

دډیلي لویه جرګه

څلور بجې په (ګاندي ګراونډ) کښې د پښتون جرګې له خوا د یوې لویې جلسې انتظام شوی ؤ، نژدې څلور بجې مو دغه ځای ته ځان ورساوه، د سترګو اندازه نه وه مګر د پښتونستان دپاره د ټول ربړونه ګـ لل زمونږ د خوشحالۍ سبب ؤ.

د جلسې ځای د خپل وخت نه لږ وروسته تیار شو او په دې سبب جلسه څلور نیمې بجې شروع شوه، اول خان غازي کابلي د پښتون جرګې سکرتر د جرګې له خوا د پښتونستان او افغانستان نمایندګانو ته یوه سپاسنامه وړاندې کړه، چه مطلب ئې دا دی «زه نن د پښتون جرګې د سکرتر په حیث د پښتونستان «هغو ښاغلو نمایندګانو ته هر کلی وایم، چه دوی په آزاد پښتونستان تیرا، وزیرستان، مومندو او بلوچستان کښې د سربازۍ په کوشش کښې بوخت دي، د پښتنو له زیار او کوښښ نه ثابتېږي چه دوی ۸۵ کاله له انګریزانو سره مقابلې کړې دي او اوس هم د خپل وطن د آزادۍ د پاره سر په تلي ولاړ دي، مونږ پوهېږو چه پاکستان د پښتنو دغه غوښتنه په خوښه نه قبلوي نو ځکه په دې لار کښې په پښتنو باندې زیاته قربانۍ ور کول لازم دي، مونږ د پښتونستان نمایندګانو ته وایو چه دوی دې خپل قوم ته ډاډه ور کړي، چه د هند پښتانه اوسېدونکي د پښتونستان د آزادۍ په لار کښې لویې قربانۍ ته تیار دي.

پس له هغه سیال میکروفون ته ودرېد، او د پښتونستان په حقیقت ئې پوره رڼا واچوله سیال دا خبره خلکو ته ښه ودوله چه پښتونستان یو وهمي او فرضي شی نه دی بلکه دا په تاریخي جغرافیائي سندونو ټینګه یو منلی حقیقت دی، ده وویل چه مونږ د پښتونستان د جوړولو دپاره کلکه او پخه اراده کړې ده، په دې لار کښې هر څه چه را ته پېښېږي، سینې مو ور ته ډال کړې دي. پاکستان که په مونږ هر څو مره ظلم کوي، مونږ ور ته لطف او خوند اخلو ځکه مونږ ورسره عادت شوي یو، تر ده وروسته ارباب د بلوچستان د انجمن وطن کارونه

د هند په آزادۍ کښې د پښتنو قربانۍ بیان کړې ده، وویل چه مونږ د پاکستان سره جنګ نه غواړو، مونږ د سولې او امن طرفدار یو، خو څه وکړو چه پاکستان په مونږ ظلم او زیاتی کوی او زمونږ حق او موجودیت نه مني، له دې کبله مونږ به مجبور شو چه یو وخت توپک را واخلو او د خان د ساتنې د پاره جګړه و کړو، پاکستان په (توبه) کښې په مونږ یرغل وکړ، خو داسې شکست ئې وخوړ چه یاد به ئې لري.

بیا ظهور الدین خان د کاغذ له مخه په اردو یو خوشخبري و کړې او په آزادو سرحد و نوئي د پاکستان تیری او تجاوز و نه یو بیان کړل. د وویل چه د پاکستان الوتکې بې له اعلانه زمونږ په کورونو، ښځو ماشومانو ګولۍ اچوی، چه په دې وجه زمونږ کورونو او خلکو ته د ډېر تاوان رسېدلی دی — خو سره د دې هم زمونږ ځوانان د مقابلې د پاره تیار دی او د پاکستان په دې کارونو ئې هیڅ پروا هم نشته، تر ده وروسته میوندوال په انګریزی یو خوشخبري و کړې، ښاغلي مولانا محمد اکبر ماته هم اشاره و کړه چه څه و وایه!

زه که څه هم خبرو کولو ته تیار نه وم، خو له ناکامه پاڅېدم او په پښتو مې یو خوشخبري و کړې چه خان غازي بې په اردو ترجمه کړله.

ما وویل: چه افغانستان د پېړش کاله پخوا خپله آزادي اخیستې ده، د آزادۍ قدر ورته معلوم دی، نو ځکه خپله وظیفه ګڼي چه د پښتونستان ورونو سره هم د آزادۍ په لاره کښې ملګرتیا و کړي، افغانستان د ملګرتیا او کومک د زمانې د غوښتنې او چلند او خپل وس سره سم د امیر دوست محمد خان له وخته کړې دی، د دې پرو خبرو تاریخ د خلکو په سینو کښې پروت دی، د انګریزانو مقابله په دنیا کښې د جرمنۍ غوندې حکومت و نکړې شوه نو افغانستان مجبور ؤ چه یو واځې د پردې تر شا د پښتنو کومک و کړي، البته اوس چه ښکاره کوشش موقع او وخت راغلی دی، نو په ښکاره هم د پښتنو د خپلواکۍ طرفداري کوي او هر قسم اخلاقي مرستې ته ولاړ دی، سربېره په دې رورویه او د وینې په ګډون، د ګاوندیتوب حق هم دادی چه د یو بل امداد به کوي، په نن وخت کښې که د پښتنو سره هر چا څه و کړل هغه به ښتمانه هېڅکله له یاده و نه باسي او تل به ورته د قدر په سترګه ګوري، په آخر کښې ما داوروسته شعر هم ولوست:

پښتنو عزم دی نن کړی خپل وطن جوړ وی

له پښتونخوا نه بایسته ښکلی ګلشن جوړ وی

د خان دپاره د آزاد ژوند و نو مسکن جوړ وی

بد خواه غلیم لره زندی دار و رسن جوړ وی

اوس دي پوه شوي هر يو كار كړي په يو والي سره

غوا ړي ژوندون د آزادۍ په پښتنوالي سره

پښتانه نن دي را ټول شوي تدبير و نه كوي

دغه ئې فرض دي يو تر بله ژوند فكر و نه كوي

په پاخه عزم پاك نيت باندې كار و نه كوي

كه وخت ئې راشي په دښمن به غورځنګو نه كوي

نن د ميرويس او احمد شا روحونه غونډ دي سره

لودي بهلول سوري شيرشاه هم دواړه پنډ دي سره

نن د پښتون د جګېد و دوبار خو بو نه وينم

محكم له غرونو په هر ځاى د دوى عزمو نه وينم

تل قربانۍ ته تيار د دوى سر و نه وينم

پښتونستان په نوم تازه د دوى رنګو نه وينم

حق د چا نه خوري خو بل چا ته هم خپل حق نه پرېږدي

غير و غماز ته خپله خاوره يو څپك نه پرېږدي

احوال چه ګورو په دنيا نوي دور ان راغلى

نن د پښتون د آزادۍ وخت او زمان راغلى

د دوى د پاره يو ځل بيا د ننګ ميدان راغلى

د سربازۍ او قربانۍ بل امتحان راغلى

دې امتحان كښې، كاميابى بې له همت، نه كېږي

پوره ګټل د دې ميدان بې صداقت نه كېږي

په آخر كښې مولانا محمد اكبر د پښتون جرګې د مقصد ، د پښتونستان د نمايند ګانو د رابلنې او د خدائى خدمتګار ودد برو قربانيو په باره كښې يو تقرير و كړ او په دې خبره ئې زور وا چاوه چه پاكستان واې د پښتنو محبوب ليډر خان عبدالغفار خان په جېل كښې اچولى دى، چه صحت ئې ورځ په ورځ خرابېږي كه پاكستان اسلامى او ياقانونى حكومت وى، نو مونږ سره دې په دې باره كښې يا شرع او يا قانون و كړ، مونږ پاكستان ته وايو چه كه ربښتيا پښتانه په دوى خوښ وى نو زمونږ سره دې په پښتونستان راى ګيرى و كړي او چه دې يوه كار ته هم غاړه نه ږدى نو بيا پاكستان په څه ځان اسلامى او جمهورى حكومت بولى

زه‌دانه وایم چه پاکستانی ایجنټیان دې زمونږ مخالفت نه کوي کوي، دې خو په ایمانداری سره، دروغ دې نه‌وائی او بې ایمانی دې نه کوی. دا جلسه ماښام اوه‌بجې ختمه شوه او مونږ ستړی ستومانه خپل‌هوټل ته لاړو .

دجنوری ۱۵:

دخدائی خدمتګارو جلسه

دجنوری په ۱۵ ماسپښین دوه‌بجې دخدائی خدمتګارو له‌خوا دډیلی دجامع مسجد په خوا کښې دیوې لویې جلسې بندوبس شوی ؤ مونږ په‌دوه‌بجې دجلسې ځای ته‌راغــ لمو، دپښتونستان دبیرغ له‌اوچتولو نه‌وروسته دګلونو هارونه‌دټولو نمایندګانو په غاړو کښې واچولی شول، ددې جلسې منتظم ښاغلی تاج‌محمدخان ؤ دی یو تعلیم یافته ځوان او دپېښور دغلام‌محمد ګاماوروردی ګاما اوس دپښتونستان دتحریک په ګناه‌د پاکستان په‌جېل کښې پروت‌دی په شروع کښې تاج محمد خان د پښتونستان او افغانستان دنمایندګانو درنه‌معرفی وکړه او بیائې دخدائی خدمتګارو له خوا ورته‌ښه هرکلی وکړ پس له‌هغه سوکرام یو پښتو نظم‌وواېه بیاجوالاداس، تیرتهه ر ام، ملاپ سنګهه. بخشی فقیرچند درای‌عامه دمجلی‌مدیر لنډی لنډی وینا ګانی وکړې .

ملاپ سنګهه په‌خپل تقریر کښې وویل دپښتونستان پښتنو چه‌زمونږ د حفاظت دپاره کومې قربانۍ کړی دی مونږ په‌هغو فخر کوو، که‌پښتونستان جوړاوفخر افغان آزاد شو نو دخدای په‌دغه مخامخ کور «جماعت» قسم‌خورم چه‌یوساعت به‌دلته پاتې نشو . بخشی فقیرچند وویل: دآزاد پښتونستان نمایندګانو ته‌دعقیدت ګلونه وړاندی کوو، مونږ دپښتونستان سره‌دهمدردۍ‌غږ اوچتو واو دهند حکومت ته هم‌پکار دی چه دپښتونستا په‌مسئله کښې خپل آوازپورته کړی .

بیاسیال، ارباب اوظهور الدین خان وینا ګانی وکړی او پخوانی مطلبو نه ئې بیاوویل داجلسه په څلور بجې ختمه شوه .

دډیلی پوهنتون

ماز یګر په‌پنځه‌بجې دتاج محمد خان او خان‌غازی په‌ملګر تیادډیلی دیو نیورسټی

په بله هفته لا ړو، دیو نیو رستۍ طالب العلمان او پروفیسران ټول غونډ شوی وو.

لـــو مـــړی میر تاج محمد خان چه یو وخت د دې یو نیو رستۍ طالب العلم ؤ، د پښتو نستان او افغانستان د نماینده ګانو معرفي و کړه او بیا د طالب العلما نو له خوا د علمیا نو مشر ګـــرانـــو مبلمنو ته د هر کلی په منځ کښې داوروسته خبر ې و کړې:

افغانستان له هندوستان سره زاړه تعلقات لرل او زمونږ په هر غم کښې به شریك ؤ د آزادۍ نه پس دا تعلقات لا زیات شول، زه فخر کوم چه د افغانستان نماینده ګان نن زمونږ وطن ته راغلی دي، د افغانستان نه علاوه زمونږ په څنګ کښې پښتانه ا و سی. دوی د هند د آزادۍ سره ډېر کومك کړی دی نو مونږ باید د دوی سره کومك و کړو.

پښتونستان اوس یو حقیقت دی، مونږ د پښتونستان نماینده ګانو ته وایو چه مونږ ستاسې د آزادۍ ملګری یو، تاسې یقین و کړی ء چه د هند خلك ستاسې سره همدردی لری تر ده وروسته میوندوال په انګریزی ژبه او بیا ارباب په اردو او سیال په پښتو خبرې و کړې او د پښتونستان د مسئلې په حقیقت ئې د یو نیورستۍ طالب العلمان و پوهول شاګردانو د فقیرایپی د حالاتو اورېدلو سره دلچسپی درلوده، مګر د وخت د لږ والی په وجه ظهورالدین خان ته موقع پیدا نشوه چه په دغه باب کښې څه ووایی.

دا خبره هم د یاد ساتلو ده، چه د ې ټولنې ته یو انګریز پروفیسر هم راغو ښتل شوی ؤ مګر کوم وخت چه د پښتو نستان په باره کښې تقریر و نه شروع شول، نو ده د پاکستان د خوشحالۍ د پاره مجلس پرېښو داو ولاړ. د مجلس د ختمېدو نه پس د شاګردانو د شپې اوسېدو ځای ته ورغلو. دا ځای ډېر لوی او په ښه ډول جوړ شوی دی، وائي چه په ایشیا کښې د ریمه درجه (هاستل) ګڼل کېږی، په دې هاستل کښې سل تنه هلکان اوسېدی شی او له هر یو تن نه د میاشتې درې نیم سوه روپۍ فیس اخیستل کېږی.

د جنوری ۱۶:

د پرو ګرام سره سم ننۍ ورځ د «دیو بند» د تللو د پاره ټاکلې شوې وه، مګر د مولانا محمد اکبر د طبیعت د نا برابرۍ په وجه د غه پرو ګرام د عمل جامه وانه غو سته، او بله دا وجه هم وه چه مولانا حسین احمد مدنی په «دیوبند» کښې مو جود نه ؤ، ملګر و دا ورځ د ځان سمبالو لو او دیو نیم شی د اخیستلو د پا ر ه غنیمت و ګڼله او آزا دا نه په خپله خوښه و ګرځېدل، ماسپښین په ۲ بجې د امریکې د پریس نماینده مستر «فلپ سینګر» د خینو پوښتنو د پاره زمونږ لیدو ته راغی، ده عجیبې او غریبې پوښتنې کولې او غټ غټ سوالونه ئې داو و:

۱- دپښتونستان تحریك هندوستان چلوی که افغانستان ؟ پښتونستان دنیپال سره پیوستون لری که نه؟ دپښتونستان اقتصادیات څنګه دی؟ مونږ وریدلی دی، چه پښتانه تنظیم اوحکومت نه منی، نوبیا تاسی څنګه حکومت جوړولای شیٔ ؟ تاسی چه دومره موده آزادویٔ نوولی مو ترقی نه ده کړي، ذده څوابو نه تولو په شریکه وویل :

دپښتونستان تحریك په خپله دپښتنو تحریك دی، نه ئي افغانستان چلوی او نه ور سره هندوستان غرض لری البته افغانستان ورسره اخلاقی امداد کوی.

پښتونستان دنیپال سره هیڅ ارتباط نه لری، په منځ کښي ئي دهمالیي لوی غر و نه دی پښتونستان پوره اقتصادی ذخیري لری، مګر پښتنو ته دهغو دپکار اچولو موقع په لاس نه ده ورغلي، که دپښتونستان حکومت جوړشي نو بیادخپل پیدا وارنه کافی فایده اخیستلا شی.

پښتانه په پوره اندازه دتنظیم طرفداردی، دوی دخپل کلی دیو ورو کی ملك خبري منلو ته هم تیار دی، داخالی دد ښمنانو پروپاګند دی، که په دوی کښي تنظیم نه وای نو نن به ئي خپل نما یندګان څه رنګه هند ته را لیږل؟

نودترقی دنه کولو علت ئي دادی چه انګریزانو ترقی کولو ته پري ایښی نه دی، بلکه تول ئي توټي کړی دی او دیوبل نه ئي جدا او بیل ساتلی دی، فلپ سینګر په آخر کښي وویل چه مونږاوریدلی دی، چه پښتانه شاړ او غیر مهذب خلك دی تاسی خو ډیر مهذب او خوازه خلك ئی.

مونږ وویل داهم دپښتنو ددښمنانو پروپاګندی دانماینده یه آخر کښی پوره خوشحاله شواوبیالاړ.

دجنوری ۱۷:

دمرتب پروګرام سره سم زما ملګری میوندوال، سیال رمضانی او ارباب ګیځ په ۸ بجي داحمد آباد په لور وخوځیدل اوزه دخپل علاج دپاره په ډیلی کښي پاتی شوم، له دي تاریخ نه پس زه یوانځي شوم، نوځکه زما وروستنۍ لیدني کتني یوانځي په ما پوري اړه لري.

دجنوری ۱۹ :

دکشوری لال سره دستر کو ډاکتر «مترا داس» ته لاړو «متراداس» دهند د تقسیم نه وروسته له لاهورنه ډیلی ته راغلی دی اویوه بنګله ورته رسیدلي ده دی اوس سپین

زیري شوي دي،خوسره ددې هم دمریضانو په کتنه پسې سر ګردان ګرځي، دهٔزما سترګې و کتلې او د کتلونه وروسته ئې و ویل چه نظر کمزوری شوی دی او دښې سترګې نظر لاز یات کمزوری دی . د ا بې له چشمو نه بله چاره نه لري، باید دوه قسمه لیرې او نژدې چشمې استعمال کړې۔ ده چه څه وویل زه دهغو منلو ته چار ناچار تیار شوم ولې چه دمریض واک د حکیم په لاس کښې دی، ا تلس روپۍ فیس مو ورو سپاره او بیا بله ورځ دچشمو دپاره ورغلو،ددوو جوړو چشمو ئې «٤٥» کلداري واخیستې کوم وخت چه ما چشمې په سترګو کړې، نوخیال مې و کړچه نوې سترګې خدای را کړې،ځکه چه دشیزونو اصلي رنګ را ته ښکاره شو.

دجنوری ۲۰ :

﴿د کشمیر هاوس﴾

سهر لس بجې مې دمیر تاج محمد سره د « کشمیر هاوس » دلیدو شوق و کړ ؛ کشمیر هاوس په نوی دیلي کښې د « پرتهوی راج » روډ په خوا کښې یو ښکلی ځای دی، دا هاوس د کشمیر د آرټ او صنعت یو غوره نندارتون دی،د کشمیر په نامه کښې چه څومره خوزوالی او لطف موجود دی،هغه دلته په مجسم صورت و ایدی شو او د کشمیر دطبعي ښایست ، لطافت او نفاست ننداره مو په ښه شان و کړه، ددې ننداره تون د ښکلو او پاکیزه شیانو په لیدو زمو نږ په نظر کښې د کشمیر نوم نور هم زیات قدر من او درو ندشو، په دې هاوس کښې دجلا جلا صنعتو نو ځانله ځانله کو ټې وې،په یوه او یه خو نه کښې د چار مغز دلرګو نه جوړ شوی سامان لکه چوکۍ، میز، ګلاسو نه، کاسې، مجمې او داسې نور شیان پراته وو، په بله خو نه کښې دسپینو زرو جوړ کړی لوښي لکه چاینک، پتنوس، ګلاس،پیالې او نور شیان وو، په بل ځای کښې د کاغذ نه جوړ شوی ښکلی ښکلی شیان په ښه ترتیب ایښودل شوی وو،په بله خو نه کښې د ځناور ودپو ټکو پو ستینو نه خوړ ندوو،دا پو ټکې دومره ښایسته،ښکلی پا ستهٔ وو،چه د کشمیر دغره دځناورو په ښایست ئې هم پوره شاهدی ور کوله ،په بله کو ټه کښې کشمیري قالینې پر تې وې چه ډېرې ښا یسته ، ګلدارې او ډبلې وې،مګر دافغانستان قالینو ته نه رسیدې،سر بېره پر دې کشمیري شالونه ،ورېښمینې ټو ټې،د کټ خادرونه،او نورې ټو ټې هم پکښې موجودې وې.
د کشمیر هاوس دسامان ښکلا او ښایست خوډېر ز یات ؤ مګر قیمتونه ئې لېز اوچت وو،او داسې معلومېده چه دا په مالدارو خلکو باندې د دې دپاره خرڅوی چه بیسې ترې تر ګوتو ته کړي.

په ډیلي کښې د کشمیر ی مالونو ځلوړ پنځه نور لوی لوی دکانونه هم شته ، دا انتظام ټول د کشمیر حکومت کړی دی، په شمله ، بمبۍ کلکته کښې هم د غسې ننداړتونونه جوړ شوی دی، د کشمیر د یووړو کی ریاست د نوم او چتولو ، صنعت زیاتولو، اقتصاد یاتو د ښه کولو دپاره چه د کشمیر حکومت څومره کار کړی دی یا ئې کوی؛ حقیقتاً چه د ډیرې ستاینې وړ دی، او د ډیرو خلکو له ترې عبرت اخیستل پکار دی . خدای شته چه زه خو د کشمیر دومره پر مخ تګ او صنعتي ترقۍ حیران کړم او افسوس مې وکړ چه پښتانه سره له دومره قوته او ډیر ښته له کشمیر نه هم وروسته پاتې دی .

د جنوری ۲۱ :

﴿د بین المللي انجنیرۍ ننداړتون﴾

ما ز یګر شپږ بجې په ډیلي کښې د بین المللي انجنیرۍ ننداړتون ته لاړو، دا ننداره ډیره خونده وره وه . د ټولې دنیا د انجنیرۍ د وروسته ترقۍ نمونې او ګرافونه پکښې موجود وو، د هند د بجلۍ د صنعت د پر مخ تګ نقش د سرو ګروپونو په منځ کښې له ورایه بریښېده، په دې ننداړتون کښې د ټول هند جغرافیه په مصنوعي صورت جوړه شوې وه، مدراس په صنعتي لحاظ له ټولو صوبو مخکښې ؤ، د بندونو نهرونو ویستلو، زراعتي چارو، کارخانو او نورو څیزونو نقشې پکښې ویستل شوې وې او د هند په صنعتي ترقۍ ئې پوره شهادت ورکاوه، په دې ننداړتون کښې فرانس، سویډن جرمني، انګلینډ، امریکې، بلجیم او نورو ډیرو ملکونو د خپلو کاریګرو نمونې ښودلې وې، د ګړ ګرندوې لوی لوی ترکټورونه ولاړ وو، مونږ نژدې تر «۹» بجو وګرځېدو مګر ټول ننداړتون مو پوره ونه کتی شو، دا سې معلومېده چه هند د تخنیک او صنعت په برخه کښې کافي ترقي کړې ده او په دې لار کښې اوس هم ډیر کوشش کوی د کاریګر او بېکار ولاړ او روان په منځ کښې ډیر فرق دی ، په منځنۍ ایشیا کښې ډیر ملکونه په ځای ولاړ څه چه په وروسته روان دی، همدغه وجه ده چه نن په ایشیا کښې یوازې د هندوستان نوم په ټوله نړۍ کښې یادیږی او پوره بین المللي شهرت ئې ګټلی دی .

د جنوري ۲۵ :

(د پرتاب ورځپاڼه)

سهار اس بجې د خان غازي کابلي سره د «پرتاب» د ورځپاڼې دفتر ته لاړم د «پرتاب» ورځپاڼه په اردوژبه کښې له ډيلي او جلندر څخه په يو وخت خپريږي مدير او چلوونکې ئې «کې نريندر» يو درونډ مزاج او پوه ځوان دی، زمونږ ورتګ دده او دده د نورو ليکونکو ددلچسپۍ سبب شو او بيائې راته خپلې ټولې دا يرې د فوټو ګرافۍ ځای، ماشينونه او نورو ښودل، ددې دايرې کارکوو نکی ټول په کاروبار لګياوو، ځکه چه د هند د جمهوريت د ورځې يعنې دجنورۍ د۲٦، ښېې ګڼه ئې تياروله. ماته ئې وويل ډير افسوس کوو، چه ته په داسې نېټې وخت کښې راغلی يې چه مونږ سره دې ستاسو دخدمت وخت نه دی، او زما آرزو هم دا وه چه تاسې د کار په وخت کښې په کار او فعاليت بوخت ووينم او ددې نه‌زه پوره‌خوند واخلم. دخبرو په‌منځ کښې معلومه‌شوه چه د «پرتاب» د ورځپاڼې ټول کاريګر سل تنه دي او اوه تنه‌ئې د سرمقالو مديران دي، دا خبره مې چه واوريده، نو خپل اخبار «هېواد» را يادشو.

چه چلوونکی ئې يو تن دی او ټول تال‌پکښې درې تنه کار کوي. اوه ... خبره را نه بله خوا لاړه، د پرتاب په ورځپاڼه کښې د کاپي نويسۍ ډير کاتبان کار کوي دا اته پانيزه ورځپاڼه ددوی د کوټو دحرکت په برکت هر سهار د نشر ميدان ته راوځي، ددې روزنامې د کار کوونکو د کار ځای خو ډير تنګ ؤ، مګر زړونه ئې تنګ نه‌وو، او په‌ډير شوق او مينه په خپلو کارونو لګيا وو.

د پرتاب ورځپاڼه د پښتونستان دمسايلو سره علاقه ښکاره کوي او په دې باره کښې خپرونې هم کوي.

د جنوري ۲٦:

(د هنددخپلوا کۍ جشن)

دا ورځ د هند دجمهوريت رسمي ورځ ده، نو ځکه د دې ورځې په مناسبت په ټوله ډيلي کښې دا ولس وا کۍ (جمهوريت) يو لوی جشن جوړشوی ؤ، مونږ د هند دجمهوريت دوهم جشن په ډيره دبدبه وليد، قابو سهار لس بجې وې، د «انډيا ګېټ» له‌ميدان نه په‌وځې رسم ګذشت‌شروع شو او‌مونږ‌ئې په «کرزن‌روډ» کښې د تيريدو ننداره کوله، ښځې او نر وانده او غټ د و دانيو په سر، د ديوالو نو دپاسه، دو نو په ښاخو نو، د سړك په غاړو ننداري ته راوتلي وو، د ډيلي دا تلس لکو خلکو نه به ضرور دوه لکه خودې سيل ته راغلي وو.

په پوځې تېر بدو کښې اول ټانکونه، موټرونه، اسمان خولې او درانه توپونه تېر شول، ټول بیا لیکل‌نوی بربښېدل، په هر ټانک باندې بېل بېل نوم لیکلی ښکارېده، په یوه بهشت، په بل ئې «ابراهیم» او په بل ئې «اشوکا» لیکلی ؤ. له درنې وسلې نه وروسته داسونو او اوښانو رسالې تېرې شوې، داوښانو رسالې د«جیپور او جسلمیر» په برخه کښې دپاکستان په سرحد پرته ده، ځکه چه دغه وطن ټول شګلن دی او بې له اوښانو پکښې بل څه کار نشي کولای، وروسته دځمکې، سمندري، هوائي فوځونو ټولګي په منظم صورت تېرېدل، دوی په وجود روغ او په بدن قوي وو، نوې وسلې او نوی لباس ئې په غاړه ؤ، دلاسوا وپښو غورځېدو ئې سم او منظم وو، زمونږ په خوا کښې یو هندوستانی سړی غږېده، چه دا ددوسوو کالو روزل شوي منظم پوځ دی په دې وخت کې دالوتکو ټولګي هم په هوا کښې راښکاره شول او دننداري په صورت د ډیلې دپاسه والوتل، په دوی پسې وروسته دموزیکې جلا جلا ګروپونه راغلل او پس له دغه دهند دزاړه تهذیب یا په بله ژبه دپخوانی رسم ورواج، شان او شوکت عجیبې غریبې منظرې، څېرې او ښېښې تېرې شوې، ددنیا تر ټولو لوی ځناور «هاتیان» دهند دراجګانو دروایاتو سره سم لکه ناوې په ښار سو، زرینو ټوسینګار شوی ؤ، په څرمنې کښې ئې یوه ګوته ځای لغړ نه ؤ یا تې شوی، دشا دپاسه ئې دښکلې پالنګ په خوا کښې چوکۍ پرتې وې او په منځ کښې ئې یو مصنوعی راجا دخپل خاص شکل و شباهت سره ناست ؤ، د هاتیانو مخکښې او وروسته، بیرغ والا او نور سپاهیان داحترام په غرض روان ؤ. وروسته د موټرونو او ټانکونو دپاسه جوړې شوې لوی لوی ښکلې او کلاګانې هم په تماشه کښې تېرې شوې، په دې ښکلو کښې دهند دزاړه روایتونه، لرغونې افسانې او قصې مجسمې ښکارېدې، دراجګانو او راڼیو دربارونه، دهغه وخت مخصوص سینګارونه، دعیش او عشرت محفلونه، دساز او سرود مجلسونه، دښاپیریو جینکو ناچونه او نور عجیب عجیب شکلونه ښکارېدل، دهرې زمانې لباس، تهذیب، رسم ورواج په جلا جلا صورت ښودل شوی ؤ، په دې مصنوعی ښکلو او کلاګانو کښې در اناپرتاب سیواجی، رنجیت سنګه، اکبر، سیتا رام، دجانسی رانۍ، رامچندرجی او نورو مصنوعی څېرې په بېل بېل رنګ له ورایه برېښېدې، په آخر کښې ګاندهي جي او وروسته دامن ښکلې بې مخې پرښتې تېرې شوې، او دا منظره ددوی د مخونو په سپین برک کښې ختمه شوه.

په دې رسم گذشت کښې دهنددقديم تهذيب په نامه دهندوانوزوړ تهذيب په پوره شان اوشوکت ، جلال اوعظمت وښودل شو ، له مغلي پاچاهانو نه يوازې (اکبر) ، په دې تماشه کښې ځاى موندلى ؤ، مګر که چېرې د شېرشاه دعدل اوانتظام يوه نمونه هم ښودل شوې واى، نو ددې زبر دستې تماشې نيمګړ تيا به پوره شوې واى . آوا زه وه، چه د هند جمهور رئيس (اواس وا کمن) را جندر پر شاد به هم د خلکو دوراندې تېر يږي، مګر تر آخره ئې څه پته معلومه نشوه او دا پوښتنې دود نېز دې يوه بېجه پاى ته ورسېد .

دجنورى ۲۷، ۲۸، ۲۹ :

په دې ورځو کښې بې د ګرځېدورا ګرځېدونه، بل څه مهمه خبره پېښه نشوه، په ۲۹ نېټه په بازار کښې ديو نيم ښيز داخيستو دپاره وګرځېدو، ګړۍ اوقلم مې ضرور پکارؤ خوچه بيه مو کړل، داخيستونه وو ، ليکن سره ددې هم ځکه چه ما ګړۍ نه درلوده او له کابل نه په دې امېدوم چه په هند کښې به دلاس ګړۍ اخلم، نومجبورشوم يو «وېښتن» ساعت مې په «۱۰۰» کلدارې واخيست، يو قلم او يو نيم بل شى . بياد عينکو د کان ته ورغلو، د کان والاچه زما په سترګو ستر ګې ولېدې، وئې ويل چه داعينکې زماله د کان څخه اخيستل شوې دى ، مونږ ترې دقيمت پوښتنه وکړه وئې ويل چه په «۱٤» کلدارې يوه جوړه تمامه شوې ده ، ماورته وويل چه دا کتر «متراداس» خو زمونږ نه په دوو جوړو چشمو «٤٥» کلدارې واخيستې او (۱۸) روپۍ موځانله فيس ور کړ ـ ده وويل چه زياتى ئې کړى دى اوپه دو اړوچشمو کښې ئې «۱۸» روپۍ زياتې اخيستې دى ـ په دې وخت کښې ماته دعليخان خټک شعر را يا د شو :

رنځور زړه به دې روغ نکړى عليخانه ـ جراحان د ى پسې مه ځه طبيب نشته

زما په چشمو کښې يو بل نقص هم ؤ چه ښيښې ئې سپينې وې او په غرمو کښې ئې دستر ګو سوزښت اوسردردى پيښوله، نوپه دې وجه مونږ وغوښتل چه د کروپس رنګ دارې ښيښې په بل فريم کښې ولګوو ، نو په يو غوره جرمنى فريم کښې ئې راته نوې ښيښې ولګولې او (٤٥) کلدارې مونورې هم ور کړې ـ داخو دستر ګو دډا کتر قصه وه؛ اوس يوه بله قصه واورىء ـ زه دجنورى په (٦) نېټه دجلدى رنځو نو ډا کتر (بهار ګوا) ته لاړم ، زماوجود ئې و کوت، د کنلو نه مخکښې ئې «۱٦» کلدارې

فیس تر کوتو کړ، بیائې ولیکل چه دوینې اوبولو کتنه پکار ده، دوینې او بولو کتنه مو په ۱۵ کلدارې په بل ځای کښې وکړه، او بیا ده ته راغلو ده را ته څو ګولۍ او دمېزاو دارو را کړه اووئې ویل چه په هفته کښې درې ځله بجلۍ لګول پکار دی، د یو مریض دپاره د ډاکټر خبره نه منل کفر دی، په دې وجه مجبوراً به یوه ورځ ترمنځ ورتلم او په (٤) دقیقې بجلۍ لګولو ئې را څخه (۱۰) کلدارې اخیستې، آخرچه درې ځله بجلۍ ئې ولګوله، نو معلومه شوه چه د اعلاج ډېره موده یعنې لږ تر لږه شپږ میاشتې غواړی، له بلې خوا ز ماورځې هم لږې پاتې وې؛ نو په دې لحاظ مې دجنورۍ په «۲۹» ورځ ددغه ډاکټر نه علاج بس کړاودوروستۍ دپاره مې یوه نسخه ترې واخیسته، مګر سره ددې هم زه په دې پوه نشوم چه ډاکټر د دارو ګر په معنی دی او که د سودا ګر، د موجوده وخت زیات ډاکټران خوسودا ګران دی، او دډاکټرۍ اصلي وظیفه یعنې د مریضانو سره همدردی اوزړه سوی کول خوترې بیخې هېرشوی دی.

دجنورۍ ۳۰:

دهمدرد صحت دوا خانه

سهرلس بجې د ګران دوست ښاغلی عیسی خان سره دهمدرد دواخانې دلیدو دپاره لاړو همدرد دواخانه دزاړه ډیلي په «لال کوان» بازار کښې ده، کوم وخت چه مونږ دغه مشهور ځای ته ورسېدو، نو اول اول د «قاری محمدارشادحسین» په واسطه چه دښاغلی عیسی خان دوست ؤ دحکیم عبدالحمید خان کتو ځی ته ورغلو، بهر د انتظار خونه له مریضانو نه ډ که وه؛ مګر مونږ ته دمېلمه توب په وجه مخکښې حق را کړی شو؛ حکیم صاحب د کار په چوکۍ ناست ؤ، ورسره دوه درې تنه نسخه لیکونکی هم وو، عیسی خان ورته زمونږ دلم او بیائې زما نبض وکوت، دخوور ځوراهیسې راته په ډیلی کښې دسردرد ی او دخوب دبې نظمۍ شکایت پیدا شوی ؤ، ده د نبض په کتو دغه شکایت معلوم کړ، دعصبی او دماغی کمزورۍ حال مې هم ورته بیان کړ؛ پس له هغه ئې ناست کاتب ته دنسخې لیکلو هدایت ور کړ، او مونږ ته دده دزیات مصروفیت په وجه دنورو خبرو وخت پیدا نشو، خو خپل مسئول سړی ئې وویل چه دوی په دواخانه کښې وګرځوه او بېل بېل ځایونه ور ته وښیه، نو ددواخانې ټول ګوډامونه، ددارو جوړولو ځایونه، دفترونه، د طبیبانو دټولنې کوټه، دحکیم صاحب د کښېناستو خونه او نور موو کتل، خلک ځای په ځای په پوره

انتظام په کارونو بوخت وو، چا شربتونه جوړول، چا عرقونه وېستل او څوك دد بلو
اوبو تلو نو په ډکولو لګیا وو، په خپله د حکیم عبدالحمید خان کوټه د بره، ښایسته صفا سوتره
او ډېر اکثر انو د کوټې نه هم څو درجې زیاته وه.

بیا د دارو اخیستلو کوټې ته راغلو، دلته قاری محمد ارشاد د دواخانې کښې ناظم مونږ ته
د چای بندوبست وکړ او قاری مشرف علی صاحب را سره د مینې خبرې اترې شروع کړې
قاری مشرف علی له (٤٥) کالو راهیسې په همدرد دواخانه کښې کار کوی، او یو
تجربه کار نیك خویه سپین ږیری دی. مونږ له ده څخه په خبرو اترو کښې د همدرد
دواخانې په باب کښې دا وروسته معلومات حاصل کړی شول،

همدرد د دواخانه په «١٩٠٦ع» د حکیم حافظ عبدالمجید صاحب له خوا نه د دوه سوه روپو
په سرمایه جوړه شوې ده، چه اوس ئې دیوې لوئې مؤسسې حیثیت موندلی دی؛ په دې
دواخانه کښې ټول دارو ګان په خپله جوړیږی، په میاشت کښې ورته نږدې دوه زره
مریضان ځی راځی، چه په سلو کښې اتیا ئې صحت مومی، د لیرې ځایو مریضان ورته
دخطونو په واسطه د مرض حالات رالیږی، چه د طبیبانو د ټولنی له خوا په غور کتل کیږی
او دوا په پارسل کښې وراستوله کیږی؛ په دې دواخانه کښې اووه اته تنه حکیمان
د انجمن په صورت کار کوی، د دې دواخانې حکیمان د دهلی له طبیه کالج نه راوتلی دی
دا کالج حکیم مسیح الملك اجمل خان مرحوم جوړ کړیؤ، مګر د هند د وېش نه وروسته
ورته خپل پخوانی حالت پاتې نشو.

په دې دواخانه کښې تقریباً «٥٠٠» تنه کار کوی چه د ټولو ماهانه تنخواه دېرش زره
کلداری کیږی. دا دواخانه ځای په ځای په ټول هندوستان کښې او دغه شان په
مکه مکرمه کښې ښاخونه او څانګې لری، د دې دواخانې د ګټې له پیسو څخه په سلو کښې
دری برخې د وقف په صورت په خیریه کارونو کښې لګیږی، د دې دواخانې موجوده
سرپرست او اعلی نګران حکیم عبدالحمید، د حکیم عبدالمجید ځوی دی، حکیم عبدالحمید
د ٤٢ کالو په عمر یو نیك د مانځه او د اسه پابند سړی دی، چای او سګرټ بیخی نه څکی
او د ټولو مریضانو د هر مرض کتنه په یوا ځې ځان کوی. په زرګونو خلك ور ته راځی
او دده په دارو خدای شفا ور کوی. د همدرد دواخانې یوه څانګه د ده د ورور محمد سعید
تر نګرانۍ لاندې په کراچۍ کښې هم چلیږی، د همدرد صحت مجله له کراچۍ
څخه نشریږی مګر اوس اراده لری چه د ١٩٥١ع له مارچ څخه په ډیلی کښې هم نشرشی.
په دې دواخانه کښې چه مونږ تر ټولو زیات نایاب څیز ولید، هغه ښه اخلاق، عاطفه

ژړه‌سوی او د مریضانو سره سمه همدردي کړې وه؛ چه دا قیمتي دارو له ډاکترانو سره ډېر لږ پیدا کېږي او داسې ؤ چه زمونږ په زړونو ئې یو نه هېرېدونکی اثر وکړ.

د گاندهی د تلین ورځ

دري کاله پخوا په دې ورځ گاندهی د هند لوی پېشوا له دنیا نه تللی دی، په دې وجه دا ورځ په هند کښې د گاندهی د یاد گېرنې او مذهبي دعا گانو ورځ گڼله شوې ده. د ډېلي هندوان ټوله ورځ د راجگهاټ په لور چلېدل، راجگهاټ هغه ځای دی چه د گاندهی وجود پکښې سوزول شوی دی او په هغه ځای اوس د قبر په شکل یوه «ډبه» جوړه شوې ده؛ گرچاپېره ترې پنجره او شاو خوا ترې لوی چمن تیار شوی دی.

زه او ښاغلی لطیف زاده د مازیگر په ۴ بجو د دې منظرې د لیدو د پاره راجگهاټ ته لاړو، بې حده به هندوان ښځې او نر واړه او غټ د خپل روحاني پېشوا مهاتما گاندي یاد گار ته د گلو نو هارونه په لاس ور روان وو، هر چا به په دروازه کښې کوښې وېستلې او د یو بهیر په صورت په چپه خوله د گاندهی د یا گار ډبې ته ورختل او گلونه ئې پرې اچول دوه لاسی سلام به ئې کاوه او بیا به ترې وتل، د خلکو په مخونو او تندیو کښې د ډېر اخلاص، کاملې عقیدې او محبت نښانې لوستل کېدې، په دې ورځ یو نا آشنا سړی ته پوره ثابتېږي چه گاندهی په رښتیا د هندوانو پلار او یو ډېر لوی پېشوا ؤ، دا خلك هېچا نه وو مجبور کړي، د دوی را تگ د نمایش او ښودنې د پاره نه ؤ، بلکه د دوی د عقیدې او ضمیر په امر د پوره احترام ښکاره کولو د پاره راغلي وو، کوم نظام کوم اکرام، کوم احترام چه د ښځو او نرو په څېرو کښې ښکارېده، هغه د دې خبرې لوی دلیل کېدی شو، چه دا خلك د اخلاقو او محبت په یوه سمه لار روان شوی دی.

ځای په ځای لوډسپیکرونه لگېدلي وو، او خلك ورته چارچاپېره راغونډ شوي وو، پنځه بجې د هند رئیس جمهور ډاکتر راجندر اپرشاد د یو عام هندي په څېر سپینه کشتوري خولۍ په سر، لنگ وهلی په خلکو کښې راننووت او د ناستو کتارونو په مخکښې غلی آرام دروند کښېناست، د هندوانو مذهبي «پرار تنا» یعنې دعا شروع شوه؛ اول وړو جینکو او راجندراپرشاد «بسم الله اعوذ بالله الحمدلله او قل هو الله احد» ولوستل بیائې په خپلو مذهبي دعاگانو لاس پورې کړ

Founder : Paxto Toléna

Editor : Azizurrahman-Saifi

Address: Ibne Sina-Ave., Kabul, Afghanistan
Tele. No: 1385

Letters should be addrssed to Seddiqullah Rishteen, Director General of Paxto Tolena.

کالنی اشتراک

د کابل په ښار کښې	۴۰ افغانۍ
په دننه هېواد کښې	۴۴ «
زده کوونکو ته	په نیمه بیه
په هند کښې	۱۲ کلداري
په نورو باندنیو ملکو کښې	۳ ډالره

په مرکز کښې د اشتراک پیسې د پښتو ټولنې د موسسې په ۷۱۸۷ لمبر جاری حساب د افغانستان په بانک کښې هر وخت منلې کېږی او همدارنګه په ولایتو کښې د اشتراک پیسې د افغانستان د بانک د نمایندګیو په ذریعه د پاسنی حساب په اساس د تبادلې په ډول اخیستل کېږی، مګر ښکاره پته شرط ده.